# د بنسټیزه حقـــوقـــــو تـر لاســـه کـول

**نړیوال تجارت سازمان ته د افغانستان د رسیدلو لومړني پراونه**

اوس مهال افغانستان د تجارت نړیوال سازمان د غړیتوب لپاره بیره نلری، ځکه چی دا رنګ ګړندی غړیتوب به لړی ګټی ولری او کیدای شی د هغه هڅو کچه را ټیټه کړی کوم چی د فقر د کمولو لپاره په پام کی نیول شوی دی.

کارنده پلانونه او خبری اتری یواځنی لاره ده چی کولای شو له دی لاری د هغه درنو تعهداتو مخنیوی وکړو کوم چی په خورا غریبو هیوادونو باندی تحمیل شوی دی، او ددی سازمان د غړیتوب څخه داسی ګټه پورته کړو کوم چی یواځی د یو څو اړخیزه سیستم له لاری وړاندی کیدلای شی. د هیواد د شدیدی اړتیا، د بیارغاونی ستری هڅې او د امنیتی مسایلو د اندیښنو په پام کی نیولو سره، په افغانستان کی ټولي ښکیلی ټولنی باید ددی هیواد د پرمختګ لپاره داسی مناسبه قرضه برابره کړی چی د لږو پرمختللو هیوادونو د وضعیت سره انډول وی.

Oxfam International

## لنډيز

افغانستان په دې وروستيو کې د نړيوال تجارت سازمان سره د يوځای کيدو پړاو ته ورګډ شوی ده. له کومه ځايه چې په تجارت کې وده کولای شي يو هيواد له فقر څخه بهر کړي؛ که دهغو هيوادونو تجاربو ته پام وکړو چې د اقتصاد او پرمختګ له اړخه د افغانستان په کچه دي، نو څرګنده به شي که چيرې دی پړاو ته پوره پاملرنه ونشي، نو د هيواد د غريبتوب شرطونه به د فقر د کمولو پروسه په ناوړه توګه اغيزمنه کړي. دا سند به څرګنده کړي چې افغانستان څرنګه کولای شي د متداوم پرمختګ او فقر د کمولو لپاره د نړيوال تجارت سازمان د قرضو څخه په ښه بڼه استفاده وکړي.

### د افغانستان د لاس رسی پس منظر

په نړی کی د تر ټولو غريب هيوادونو په ډله کی يو هم افغانستان دی چی د ملګرور ملتونو له خوا د لږ پرمختللی هيواد (LDC) او غرنی يا په وچه کی ايسار پرمختلونکی هيواد (LLDC) په نوم هم نومول شوی دی.په افغانستان کی د کالونو راهيسی جنګ جګړی او بی پروايی پر وګړو، ټولنی او اقتصادی پرمختګ باندی ناوړه اغيزه اچولی دی. چی په پايله کی د افغانستان د وګړو د پرمختګ کچه حتی د افريقا د نيمه صحرايی هيوادونو د وګړو څخه هم ټيټه ده.

په افغانستان کی د عمر اوسط شپږڅلويښت اعشاريه څلور کاله (۴۶,۴) اټکل شوی، دا رقم ۲۰ کاله د افغانستان د ګاونډيو هيوادونو د وګړو د عمر څخه، او ۴,۲ کاله د لږ پرمختللی هيوادونو د اوسط عمر څخه کم دی. د کمبوديا او او نيپال په شان نور لږ پرمختللی هيوادونه چی په دی ورستيو کی د نړيوال تجارت سازمان سره يوځای شوی دی؛ افغانستان به هم هڅه وکړی ترڅو د نړيوال تجارت سازمان په ډګر کی ښه وځليږی.د نړيوال تجارت سازمان د غريبتوب د ترلاسه کولو لپاره، يو هيواد بايد نه يوازی ددی سازمان قوانينو ته هودمن پاتی شی، بلکه د حالاتو د اړتيا سره سم ځينی انفرادی غړی هيوادونه هم کولای شی دوی د ځينی نورو تعهداتو او امتيازاتو منلو ته اړ باسی؛ دا کار هيوادونو ته هغه امتيازات وکوی کوم چی د "مثبت" او "منفی " امتيازاتو په نوم ياديږی.

د ۲۰۰۴ کال د نوامبر په يووېشتمه افغانستان د نړيوال تجارت سازمان د غړيتوب لپاره يو ځل بيا خپل غوښتلکيک وړاند کړ. د افغانستان د ملی پرمختګ د ستراتيژۍ د احکامو سره سم، د تجارت لپاره يو ستراتيژيک او کليدی معيار به دا وی چی افغانستان به د (۲۰۱۰) ميلادی کال د آخره پوری د نړيوال تجارت سازمان غړيتوب ترلاسه کړی. په افغانستان کی د نړيوال تجارت سازمان د کاری ګروپ ناسته به هله ترسره شی چی افغانستان خپل د بهرنی تجارت د نظام قرارداد قطعی کړی او نړيوال تجارت سازمان ته يی وسپاری. دا کار د لاس رسی د پروسی لپاره لومړی ګام بلل کيږی. ددی قرارداد، چی د درخواست کوونکی هيواد د تجارت نظام بيانوی، مسوده اوس مهال د افغانستان د حکومت لخوا د برابريدلو په حالت کی ده، او د اټکل له مخی به د ۲۰۰۷ کال په اوږدو کی د نړيوال تجارت سازمان ته وسپارل شی.

### د يوی مناسبی قرضی لپاره مذاکرات

افغانستان به هله په يو غښتلی موقف وی کله چی په اغيزمنده توګه خبری اتری وکړی، او ځان ته داسی سياسی او اقتصادی ټينګښت برقرار کړی چی وکولای شی د بهرنيو هيوادنو د نشتون سره سره خپله ځپلواکی وساتی.د نړۍ د تر ټولو هغو غريبو هيوادنو په څير چی اوس هڅه کوی له جګړی څخه خلاصی ومومی؛ افغانستان ددی پرځای چی د نړيوال تجارت سازمان سره يوځای شی، داسی نور ډير لومړيتوبونو لری چی د هيواد د پرمختګ او فقر د کچی کمولو لپاره يی ترسره کړی. له دی کبله که چيری د افغانستان حکومت بيا هم غواړی چی په دی

پړاو کې مخ ته ولاړ شي، نو اړينه دې چې غوړونه يې خلاص وي چې په دې پړاو کې د نړيوال تجارت سازمان د پروسې سره يو ځای کېدل ګټې لړ او ممکنه اقتصادی خطرونه ډېر لري.

*د هغه پرمختلونکې هيوادونو او لږ پرمختللی هيوادونو لپاره چې غواړي د نړيوال تجارت سازمان سره يو ځای شي، پنځه کليدی فرضې ګټې په پام کې نيول شوی دي:*

*۱ . فنی مرستې سره له اقتصادی او اداری اصلاحاتو چې د لاس رسی د پروسې لخوا د درخواست کوونکې هيوادونو څخه غوښتل کيږی.*

افغانستان اوس مهال د ډونر هيوادونو په مرسته خپل د ګمرګاتو او تکس سيستم، قانون، او د وزارتونو د اداری ظرفيتونو په ځانګ ه کې د اړين اصلاحات د راوستلو په حال کې دی.د يادولو وړ ده چې مونږ دوه ډوله مرستی لرو چې ددوی پر توپيرونو بای رڼا واچول شي؛ اول هغه مرستی چې د تجارت په ډګر کې ترسره کيږی، لکه د ګمرګاتو اصلاحات؛ دوهم هغه مرستی چې د نړيوال تجارت سازمان توافقاتو ته اړوند د داخلی قانون د اصلاحاتو لامل ګرځې.د مرستو دا وروستې ډول کولای شی افغانستان تجارت پوری اړوند قوانينو ته هوډمن کړی؛ چې ممکن د افغانستان د علاقی وړ ونګرځی او کولای شی په راتلونکی کې د افغانستان پرمختګ او وده مخکی له دی چې د مذاکراتو ميز ته ورسيږی له خطر سره مخ کړی.له دی کبله د افغانستان حکومت بايد هڅه وکړی چې د مرستندويه ټولنو له مرستو څخه د هغه داخلی اصلاحاتو لپاره استفاده وکړی، کوم چې د افغانستان په ګټه وی، او د هغه اصلاحاتو په وړاندی دی ودريږی کوم چې خورا ضيق او بنديزلګوونکی دی. د تجارت د آسانتياوو لپاره فنی مرستې بايد د افغانستان د ملی ودی د لومړيتوبونو څخه ملاتړ وکړی او بايد کابو اساسی او پياوړی وی.

*۲ . هغه وده چې غړی هيوادونه يې نړيوال مارکيت ته د لاس رسی له لاری تمه لری.*

افغانی محصولات لا تراوسه په نړيوال اقتصادی بازار کی کوم د سيالی وړ ځای نلری، ځکه چې د هيواد اقتصادی ټولنې، تجارت، او اساسی بنسټونه د کالونو جګړو له کبله ورانه او ويجاړ شوی دی. مخکی له دی چې افغانستان نړيوال مارکيت ته لاس رسی ومومی، لازمه ده چې لومړی په خپل محلی صنعتی او کرهنيز سکتورونو کی پانګه واچوی او وده ورکړی؛ ترڅو له دی لاری په کافی اندازه يو څه ولری ترڅو يی بهر ته صادر کړی.په هر حال کی، اوس مهال خو افغانستان او دهغه مهم تجارتی ملګری د امتيازی تجارت د قراردادونو څخه ګټه پورته کوی، ولی ددی خبری ويل به خورا ستونزمنه وی چې افغانستان به د نړيوال تجارت سازمان د غړيتوب له لاری دی مارکټيټونو ته څرنګه وده ورکړی.

*۳ . د بهرنی مستقيمی پانګه اچوونی جذب کول:*

ځينی هيوادونه په دی باور دی چې د نړيوال تجارت سازمان غړيتوب خپله د تجارت د يو مرستندويه چاپيريال لپاره ثبوت دی چې دا کار په خپل وار سره د بهرنی مستقيمی پانګه اچونی پام د صادراتو سکټور ته را اړوی. خو بيا هم، د نړيوال بانک د پانګه اچونی وروستی راپورونو څرنګندوی چې د بهرنی مستقيمی پانګه اچوونی او د تجارت د قرادادونو (د نړيوال تجارت سازمان د غړيتوب په ګډون) تر منځ هيڅ تړاو نشته دی. برخيره پردی، د سياسی او اقتصادی امنيت په نشتوالی کی؛ لکه د ځمکی، بريښنا او د باسواده کارځواک په نشتوالی کی به بهرنی پانګه اچوونکی هيڅ کله هم افغانستان ته زړه ښه نکړی او په نورو هيوادونو کی به پانګه اچونی ته ادامه ورکړی.

*۴. هغه ساتنه چې د څو اړخیزه سیستم له لارې کولای شي واړه هیوادونه د دوه اړخیزه فشارونو او غیرعادلانه تجارت څخه ژغورې*

افغانستان به "د شخړو د حل کولو پوهه" هغه وخت تر لاسه کړي کله چې د نړیوال تجارت سازمان غړیتوب حاصل کړي. د شخړو د حل کولو پوهه د نړیوال تجارت سازمان د کړنلارې یوه برخه ده چې د غړو هیوادونو ترمنځ د تجارت پورې اړوند شخړې او نانډرۍ له دې لارې حل کیږي. په عملي ډګر کې، سره له دې چې غریب هیوادونه حق لري چې خپلې شخړې حلې کړي؛ ولې د مالي، لوژیستکي او سیاسي موانعو، لکه د تخنیکي ظرفیت کمښت یا سیاسي فشارونو له کبله دوی نشي کولای دا کار ترسره کړي. د یادونې وړ ده چې د شخړو د حل کولو پروسه به افغانستان کې ډیر محدود ارزښت ولري ځکه چې اوس مهال افغانستان په داسې حالت کې نه دی چې دا کار ترسره کړي.

*۵. د نړیوال تجارت د قانون د جوړلو ځواک*

اکثراً غړي هیوادونه د نړیوال تجارت قوانینو د جزئیاتو په اړوند خبرو اترو کې برخه اخیستل، د نړیوال تجارت سازمان سره د یوځای کیدلو یوه ګټه او امتیاز بولي. دا خبره یو څرګنده حقیقت ده چې په دې وروستیو کالنو کې د پرمختلونکو هیوادونو ډله ایز غړ د نړیوال تجارت سازمان تر چتر لاندې خورا ځواکمن او غښتلي شوی دی. په ۲۰۰۵ کال کې کومه ناسته چې په هانګ کانګ کې ترسره شوه، د (۱۱۰) پرمختلونکو هیوادونو یو ضعیف او سست اتحاد او یووالي یې وښوود، ځکه چې د موجوده حالاتو مخالف وه. په هر ترتیب، د نړیوال تجارت سازمان اوس هم د نړۍ د خورا غښتلي غړي هیوادونو په وسیله خپل حاکمیت ترسره کوي، او په څرګنده توګه ددې سازمان آجندا ددوی د لوړو آروزګانو او اهدافو ښکارندوی ده.

د نړیوال تجارت سازمان له خوا د وضع شوې خطراتو حدود تر ډیره اندازې پورې د قرضې د هغو شرایطو او قوانینو پورې تړاو لري، کوم چې له موافقت څخه وروسته یې بدلول او تعدیل یو ناشونې کار دی. دا شرایط په اغیزمنده توګه یو هیواد د داسې یو حالت سره تړي چې دا هیواد بیا نشي کولای چې د پرمختللو هیوادونو په شان خپل د پرمختګ او صنعتي کیدلو لپاره ځانته پالیسي جوړه کړي. کولای شو چې هغه څلور ممکنه خطرات په ګوته کړو کوم چې د نړیوال تجارت سازمان لخوا د افغانستان د پرمختګ پر راتلونکي بهیر باندې ممکن اثر واچوي:

*۱. د اقتصادي خطراتو هغه آسیب منونکي سکتورونه کوم چې د نړیوالو سیالیو له کبله خراب یا کمزوري کیږي:*

د نړیوال تجارت سازمان غړیتوب معمولاً د یو هیواد د تجارتي رژیم د آزادي او خپلواکۍ په معنا تعبیر کیږي. له کومه ځایه چې د تجارت خپلواکي کولای شي د صادراتو لپاره فرصتونه ډیر کړي، همدا راز کولای شي چې محلي تولید کوونکي د بهرني سیالۍ لپاره چمتو کړي، په خاص ډول په غریبو هیوادونو کې هغه تولید کوونکي کوم چې پخپله شاید ونشي کولای دې کار ته ودریږي.

د افغانستان په شان لږ پرمختللي هیوادونو لپاره ډیر زمیني شته دي چې د تعرفو په کارولو سره خپل آسیب منونکي داخلي سکتورونه له سیالۍ څخه وساتي؛ ترڅو وکولای شي د ملي پرمختګ لپاره کلیدي اهداف وټاکي او یا د غریبو ټولنو د اعاشې او استوګنې لپاره مرسته وکړي.

سره له دې چې افغانستان به د مذاکراتو میز ته د داسې تعرفي سیستم سره ځي کوم چې دمخه خورا خپلواک دی، ولې بیا هم په یقیني ډول ویلای شو چې افغانستان به د داسې فشارونو سره مخ شي چې د تعرفو د لا ټیټو نرخونو غوښتونکي به وي.

نو د افغانستان دولت د لومړيتوبونو څخه يو هم دا ده چې ددی فشارونو په وړاندی مقاومت وکړی، که نه نو د پاکستان او چين په شانی ګاونډيو هيوادونو د ارزانه وارداتو لړی به د پخوا په شانی دوام پيدا کړی او دا کار د افغانستان په فقيرو او خوارو وکړو باندی ډيره بده اغيزه لری.

*۲ . د اساسی خدماتو خصوصی کول په ليری پراتو سيمو کی کيدای شی د قانون د نشتوالی لامل وګرځی.*

اګر چه د تجارتی خدماتو په هکله عمومی قرارداد يو انعطاف پذيره توافق دی چی غړی هيوادونو ته اجازه ورکوی چی څه وخت خپل د خدماتو سکتورونه څپلواک کړی، پرمختلونکی هيوادونه که چيری ځانګړی سکتورونه خلاص کړی نو کيدای شی د لوړو فشارونو لاندی پريوځی. د نورو هيوادونو په شان په افغانستان کی هم ځينی حساس سکتورونه شته چی د روغتيا او هوساينی لپاره حياتی او اساسی خدمات چمتو کويی؛ لکه اوبه، ښوونه او روزنه، روغتيا پالنه او د بريښنتا برابرول. د نورو هيوادونو تجربه ښکاروری چی ډير جدی خصوصی شوی خدمات نشی کولای حتی غريبو ښاريانو ته ورسيږی. لدی کبله دا ډول خدمات بايد د تجارتی خدماتو د عمومی قرارداد له تعهداتو څخه وايستل شی.

*۳ . د بهرنی مستقيمی پانګه اچوونی عايدات او ګټی د کورنی اقتصاد د نيم ګړو اړيکو له کبله کيدای شی له منځه لاړی شی.*

د کارونو د اړتياوو، ځايی مقرراتو او تکنالوژی د ليږدولو له لاری برياليو پرمختللونکو هيوادونو پخپل اقتصادی ډګر کی د بهرنی پانګه اچوونی په مرسته د پام وړ ګټی ترلاسه کړی. سره له دی، تجارت پوری تړلی د پانګه اچونی اقداماتو په اړوند د نړيوال تجارت سازمان توافقات د ځايی مقرراتو اجازه نه ورکوی.د موجوده پرمختګونو د ننګونو په پام کی نيولو سره، افغانستان ته بايد ددی اجازه ورکول شی چی تجارت ته اړوند د پانګه اچونی اقداماتو لپاره يو د پام وړ انتقالی دوری په هکله خبری اتری وکړی؛ ترڅو داډ ترلاسه کړی چی بهرنی پانګه اچوونه د افغانستان په صنعتی او خدمتی سکتورونو کی جامع ونډه لری.

*۴ . د دولت مالی سرچينی کيدای شی د جدی پرمختګونو د ننګوونو څخه منعکسی شی، ځکه چی د نړيوال تجارت سازمان قراردادونه خورا ګران پريوځی.*

د نړيوال بانک د اټکل له مخی، د نړيوال تجارت سازمان هر قرارداد د (۵) ميليونه ډالرو په شا او خوا کی پريوځی.مګر د افغانستان لپاره به ددی ټرون نرخ دومره ګران نه وی، ولی بيا به هم دا کار د افغانستان لپاره حياتی ارزښت لری، ځکه چی دا يو داسی هيواد دی چی نوی له جنګ جنګړی څخه په خلاصون دی او د بوديجی لومړيتوبونه يی په هغه سکتورونو کی پراته دی چی د فقر د کمولو سره تړلی دی؛ لکه د بنسټيزه تهدابونو برابرول، روغتيا پالنه او زده کړی، افغانستان به ستر ملاتړ ته ضرورت ولری ترڅو ددی ټرون قيمت د وخت په تيريدلو سره ورو ورو وويشی.

نړيوالی ټولنی د لږ پرمختللی هيوادونو لپاره د څو اړخيزه تجارت سيستم په اړوند ځينی ځانګړی امتيازات ورکړی دی، د بيلګی په توګه، د کرهنی ټرون لږ پرمختللی هيوادونو ته داسی امتيازات ورکړی چی دوی د هغه تعهداتو څخه معاف کوی چی د کورنی ملاتړ د تنزيل او د صادرولو سب سايدی او مارکيټ د پراخی لاس رسی لپاره اړين دی.افغانستان بايد په دی وتوانيږی چی له ټولو هغه امتيازاتو څخه ګټه پورته کړی کوم چی لږ پرمختللی هيوادونو ته ورکول شوی دی. دا هغه امتيازارت دی چی د اوسنيو د نړيوال تجارت سازمان ټرونونو له لاری د اړوند شرايطو په پام کی نيولو سره وړاندی شوی، په ځانګړی توګه هغه امتيازات چی په دوی وروستيو کی د "دوها د خبرو اترو په دور کی" پری توافق شوی دی.

نیپال اوکمبودیا چی په دی وروستیو کی د لږ پرمختللی هیوادونو په کتار کی راغلی، ددی ټولو امتیازاتو د تأمین لپاره ناکامه او بی پایله هڅې کړی؛ چی ددوی تجربه د افغانستان لپاره ډیر ګټور درس بلل کیږی.

## دلاس رسی پروسی په لومړنی پړاونه کی عمل کول

که خبری اتری او مذاکرات دوام ومومی، نو داسی ډیر څه شته چی د نړیوال تجارت سازمان ته د افغانستان په لاس رسی کی کلیدی لوبغاړی ورباندی په دی لومړنی پړاونو کی کار وکړی، ترڅو ددی هیواد لپاره ډیر یو ښه فرصت او موقع وکړی چی د یو مناسبی قرضی باره کی کارنده خبری اتری وکړی.

د افغانستان حکومت باید د هغو هیوادونو له تجاربو څخه درس واخلی کوم چی په دی ورستیو کی دی پروسی ته ورګډ شوی دی.افغانستان لومړی باید خپل د بهرنی تجارت د نظام د قرارداد په اړوه پوره خبرتیا ولری، او هغه مسایل دی راوپیژنی چی یا دفاعی وی یا هم مهاجم؛ او باید د نړیوال تجارت سازمان ته ځیرمه د قوانینو او امتیازاتو سره پوره آشنایی پیدا کړی ځکه چی دا کار کولای شی په مذاکراتو کی د افغانستان په ګټه تمام شی؛ او دی سازمان سره یوځای کیدل دی د هر ډول سیاسی هدف څخه لیری کړی.د یو اوږد مهاله او اختصاصی مذاکره کوونکی ټیم په جوړولو؛ د کاری ډلی په ګروپ کی د ملګرو هیوادونو ګډون؛ د لاس رسۍ پروسی په خبرو اترو کی د کورنیو حامیانو ګډون؛ د رسنیو او غیر دولتی موسساتو په مرسته؛ د لږ پرمختللی او په وچه کی ایسار هیواد په ځیر د افغانستان وضعیت ښه کول او د مثبت سیاست په درلودلو سره به افغانستان د د نړیوال ټولنی د ملګرتوب څخه ګټه پورته کړی.

نړیوال ډونران یا تمویل کوونکی د افغانستان په پیاوړتیا کی حیاتی ونډه لری ترڅو افغانستان په دی ځواکمن کړی چی په کارنده توګه خبری اتری وکړی، نړیوال ډونران فقر او دهغه ټولنیزی اغیزی ارزوی، او په دی توګه د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب ارزښتونه په اړونده آسیب مننونکی سکتورونو کی راسپړی.

هغه ډونران چی د نړیوال تجارت سازمان د ترونونو سره د سازګاری لپاره فنی مرستې برابروی، باید ډاډ ترلاسه کړی چی دا ډول مرستی د افغانستان په ګټه دی او د افغانستان حکومت د لومړیتوبونو پر بنسټ برابری شوی دی. د افغانستان په بیاجوړونی او پرمختګ کی د تمویل کوونکو هیوادونو د سترو پانګه اچوونو په پام کی نیولو سره، دا به خپله ددوی لپاره د مناسبه نه وی چی دا ټولی هڅی نادیده وګوری او د افغانستان د پرمختللونکی حالت څخه منکر شی او افغانستان د وروسته پاتی هیواد په ځیر وګڼی.

د تجارت او پرمختګ په اړوند د ملګرو ملتونو کنفرانس (UNCTAD)، د هیواد د مذاکره کوونکی ټیم لپاره فنی مرستې د روزنی او فعال ملاتړ په ځیر چمتو کوی ترڅو د لاس رسۍ پروسی پر مهال یی په خبرو اترو کی آسانتیاوی راولی.

د (UNCTAD) لپاره دا ضروری ګڼل کیږی چی دا ونډه او دنده تر سره کړی، ځکه چی دا یوه بی طرف ټولنه ده او د کوم ځانګړی تمویل کوونکی هیواد هیلی او هداف نه انځوروی. همدا راز (UNCTAD) باید د افغانستان حکومت سره یوځای کار وکړی ترڅو په سکتوری ځانګه کی ځیړنی ترسره کړی او پر کلیدی سکتورونو کی د خپلواکی مختلفی کچی وازمویی.

د فقر او ټولنیزو اغیزو د انالایز تر څنګ، دا هغه اساسی میتودونه دی چی هیوادونو کولای شی له یو باخبری موقف څخه خبری اتری وکړی، او دا به د افغانستان لپاره ډیره مهم وی چی خپل د خبرو اترو او مذاکراتو لپاره لومړیتوبونه وټاکی.اوس مهال چی د نړیوال تجارت سازمان غړی او خپله نړیوال تجارت سازمان له کومی لاری د لږ پرمختللی هیوادونو لاس رسۍ ته لار پیدا کوی، یو مکمل اصلاح ته ضرورت لری، په دی اصلاح کی به ټول هغه زیانونه په پام کی نیول کیږی کوم چی لږ پرمختللی هیوادونو به د هغه سره په نړیوال تجارت سیستم کی مخ کیږی.دا کار باید د افغانستان د لاس رسی د مذاکراتو په بهیر کی د اوسنی پالیسی په پام کی نیولو سره ترسره شی، د نړیوال تجارت سازمان چی اوسنی کومه پالیسی ده هغه په ۲۰۰۲ کال کی د"لږ پرمختللی

هيوادونو د لاس رسی د پريکړی " په نامه بيان شوی ده.د نړيوال تجارت سازمان سکرتريت، کوم چې د غړو هيوادو له خوا جوړه شوی، او د پاليسی د پلی کيدو او تطبيق مسؤليت لری، ددی نوی ميتود په پيژندلو کی کليدی رول لوبوی.

## پايلې او سپاربښتنې

دا يو څرګنده حقيقت دی چی افغانستان به د تدريجی او محتاطانه مذاکراتو له لاری وتوانيږی چی د WTO د لاس رسي احتمالی خطرات کم کړی؛ او د فقر د له منځه وړلو لپاره خپل امکانات لا ډير کړی. که چيری داسی وای چی افغانستان مخکی له دی چی خپل اقتصاد پياوړی کړی يا د غړيتوب لازمه شرايط پوره کړی، د WTO سره يو ځای شی؛ نو په دی صورت کی قرضی ته لاس رسی کولای شوای چی د فقر د له منځه وړلو پروسه تر اغيزی لاندی راستی وئ. آکسفام باور لری چی لاندينی تعهدات بايد د هغو هيودونو لخوا ترسره شی، کوم چی په دی پروسه کی ښکيل دی، ترڅو نوموړی هيواد ته د يوی ښی او مناسبی قرضی د ورکولو چانس برابر شی:

- **نړيوال ډونران** بايد د افغانستان لپاره اړينی فنی مرستي او د فقر او ټولنيزو اغيزو ارزونی ترسره کړی؛ ترڅو افغانستان سره مرسته وشی چی د **WTO** سره خبری اتری وکړی او داسی توافق دی ورسره وتړی چی د افغانستان د پرمختګ اړتياوو ته ځواب ويونکی وی. لازمی ده چی دا مرستی د لاندی ځانګړتياوو درلودونکی وی؛ د اخيستونکی هيواد په ګټه وی، برسيره پر اوسنی مرستو وی، بی له کوم اقتصادی شروطو وی، د اړکل وړ وی، او د مناسب تجارت د قوانينو متتم او بشپړونکی وی.
- **د افغانستان حکومت** ددی لپاره چی خپل د پرمختګ لومړيتوبونه ترسره کړی، لازمه دی چی په دی باره کی خپله پاليسی باندی کار وکړی، او بايد خپله انعطاف پذيری وساتی ترڅو د شرايطو سره سم په ډول ډول سکتورونو کی په مناسبه توګه تعارفی وضع کړی؛ په ټولو سکتورونو کی دی د پانګه اچوونی کچه کنټرول کړی، او د ډونرانو له خوا د قانونی اصلاحاتو د پروسو څارنه وکړی تر څو ډاډ ترلاسه شی چی دا کار د لږ پرمختللی هيوادونه په ګټه تماميږی.
- **ډونور حکومتونه** بايد افغانستان ته د ډيرو قرضو ورکولو څخه تر هغه مودی ډډه وکړی، تر کومه چی افغانستان د لاس رسي د پروسه په بهير کی وی، په ځانګړی توګه هغه حکومتونه چی د WTO لخوا لږ پرمختللی هيوادونه ته ورکړل شوی امتيازاتو څخه انکار کوی.

برسيره پردی، د WTO د لاس رسی د مذاکراتو په بهير کی د نورو پرمختلونکو او لږ پرمختللو هيوادونو لخوا د راپورته شويو انديښنو په پام کی نيولو سره، آکسفام باور لری چی د لاس رسی پروسه د LDC هيوادونه لپاره، په تيره بيا د افغانستان لپاره، بايد په لاندی ډول سره اصلاح شی:

- WTO بايد د اوسنی لږ پرمختللی هيوادونو د لاس رسی د پريکړی (۲۰۰۲) پر بنسټ يو عادلانه او هدفمنده سيستم جوړ کړی، دا پاليسی به لږ پرمختللی هيوادونه پر دی بريالی کړی چی خپل د پرمختګ اړتياوی څرګندی کړی، نه دا چی د کاری ډلی د غړو غوښتنی څرګندی کړی.
- بايد ډاډ ترلاسه شی چی لږ پرمختللی هيوادونه د ټولو هغه امتيازاتو څخه برخمن دی چی دوی يی مستحق دی؛ د بيلګی په توګه، د ځانګړی او توپيری معاملو څخه برخمن تيا، د تطبيق لپاره تمديد شوی مودې، او ټول هغه معاف شوی وجوهات چی د موسس غړو له خوا ترسره شوی، په ځانګړی توګه د هغو په شمول کوم چی د "دوحا د مذاکراتو په دور کی" پری موافقه شوی ده.
- ددی لپاره چی ډاډ ترلاسه شی چی دا راز يو سيستم ترلاس لاندی نيول شوی دی، نو د **کاری ګروپ غړی** بايد هڅه وکړی ترڅو د مذاکراتو او خبرواترو بڼه شفافه او رڼه وی او په پايله کی دوی يو د قناعت وړ نتيجی ته ورسيږی.

- هغه لږ پرمختللی هیوادونو چې ددی پروسی سره د یوځای کیدلو په حالت کی دی، حق لری چې ددی نوی پروسی څخه پوره ګټه پورته کړی؛ او که اړتیا وی کولای شی د لږ پرمختللی هیوادونو "مثبت" امتیازات چې دمخه په دوه اړخیزه یا څو اړخیزه مذاکراتو کی ترسره شوی، بیرته ځینی واخلی.
- هیڅ هیواد، بلکه په ځانګړی توګه لږ پرمختللی هیوادونه نشی کولای چې د لاس رسی پروسی په خبرو اترو کی تر هغه پوری ګډون وکړی، تر هغه چې ددوی په هیواد کی د فقر او ټولنیزی اغیزی څیړنه په بشپړه او آزادانه توګه نه وی ترسره شوی.

## پیژندنه

افغانستان په دی وروستیو کی د نړیوال تجارت سازمان د پروسی سره یو ځای شوی دی. ددی سند مطلب دا ده چې یو هیواد څنګه کولای شی د نړیوال تجارت سازمان د قرضی د ترلاسه کولو له چانس څخه استفاده وکړی او خپلی هلی ځلی هومره پیاوړی کړی چې په متداومه توګه وده وکړی او د فقر کچه را ټیټه کړی.یقیناً دا به د افغانستان لپاره یوه ډیره ګرانه پروسه وی، ځکه چې دا د لاس رسی یوه غیر مناسبه پروسه ده چې په ترڅ کی یی له لږ پرمختللی هیوادونه څخه تمه کیږی چې خپل د تجارت نظام حتی د موجوده نړیوال تجارت سازمان د غړو څخه هم لا خپلواکه کړی.

لومړی برخه د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب لپاره د افغانستان هڅی د بشری پرمختګ په موقف کی غورځوی، او د هغه سختو ننګونو سره یی مخ کوی چې د لاس رسۍ پروسی له خوا وضع کیږی، لکه څرنګه چې دا کار د نورو هیوادونو لخوا هم تجربه شوی دی. دا برخه د افغانستان د لاس رسې په موجوده وضعیت باندی ختمیږی.

دویمه برخه نړیوال تجارت سازمان سره د افغانستان د غړیتوب ممکنه ګټو او ممکنه خطراتو په اړوند تفصیلی معلوماتو ورکوی، او څرګندوی چې افغانستان څرنګه کولای شی دا حالات زیات یا کم کړی.د افغانستان د پرمختګ په اوسنۍ پړاو کی د لاس رسی قیمت کیدای شی د ګټو له قیمت څخه ګران پریوځی؛ لدی کبله یواځی د تدریجی او محتاطانه مذاکراتو له لاری به افغانستان د یوی مناسبی قرضی چانس تر لاسه کړی.

همداراز دا برخه د نړیوال تجارت سازمان لخوا د لږ پرمختللی هیوادونو لپاره د امتیازاتو یوه لنډیز هم په غیږ کی لری، چې افغانستان کولای شی ځینی ګټه پورته کړی، د دوها په مذاکراتو کی منل شوی امتیازات هم په دی برخه کی ذکر شوی دی. د دوه وو لږ پرمختللی هیوادونو، نیپال او کمبودیا تجربې، چې غوښتل یی دا ټولو امتیازاتو ځآنته کړی، په دی برخه کی په سترګو کیږی.

دریمه برخه بیانوی چې د افغانستان د لاس رسی په پروسه کی کلیدی لوبغاړی باید په دی پړاونو کی کوم هغه کارونه ترسره کړی چې افغانستان وکولای شی د یوی مناسبی قرضی د لاس ته راوړلو لپاره موثر مذاکرات ترسره کړی. دی پړاو کی د کلیدی لوبغاړو څخه کولای شو په لاندی ډول نوم واخلو: د افغانستان حکومت، نړیوال دونران، UNCTAD، او د نړیوال تجارت سازمان سکرتریت.

بلاخره، ددی سند د پای ټکی په داسی یو لړ تعهداتو کینودل شوی چې آکسفام باور لری چې باید ژر تر ژره د افغانستان د حکومت او نړیوالی ټولنی لخوا په غاړه واخیستل شی. همداراز په پایله کی د لږ پرمختللی هیوادونو د لاس رسی د پروسی د اصلاح په اړه ځینی سپارښتنونه راغلی چې اوسنۍ پروپوزل ځینی جوړ شوی دی.

## ۱. د افغانستان د لاس رسۍ پس منظر

### د افغانستان د بشری پرمختک موقف

په نړی کی د تر ټولو غریبو هیوادونو په ډله کی یو هم افغانستان دی چې د وګړو د پرمختګ کچه یی حتی د افریقا د نیمه صحرایی هیوادونو د وګړو څخه هم ټیټه ده. او د ملګرور ملتونو له خوا د لږ پرمختللی هیواد (LDC) او غرنی یا په وچه کی ایسار پرمختلونکی هیواد (LLDC) په نوم هم نومول شوی دی.

LLDCs هیوادونه تر ټولو ډیر آسیب مننونکی او مستحق هیوادونه بلل کیږی؛ ځکه چی سمندر ته لار نه لرل، د نړیوال مارکیت څخه لریتوب او انزوا، او د ترانزیت ګران قیمت، ټول هغه فکتورونه دی چی ددی هیوادونو په پرمختګ باندی جدی فشارونه غورځوی او دا کار په خپل وار سره ددی ټولنو وګړی نه پریږدی چی د نړیوال تجارت او پانګه اچونی څخه ګټه پورته ګړی.[1]

**لومړی چوکاټ: افغانستان په یو نظر کی** [2]

نفوس: ۲۸,۷ میلیونه (د افغانستان دننه)

خالص کورنی محصول: $7.2bn (کال۲۰۰۵)

د خالص کورنی محصول کالنی وده: ٪۱۳,۸ (کال۲۰۰۵))

د فی نفر خالص کورنی عاید: ۳۱۵ ډالره (د نړیوال بانک اټکل)

د پیدایښت پرمهال د ژوند توقع: ۴۶,۴ کاله

د سواد کچه: ٪ ۲۸,۱ د ۱۵ کالو لوړ

د بیکاری کچه: ٪۳۰

د ماشومانو د مړینی کچه: ۱۶۵ تنه په ۱۰۰۰ ژوندی تولد کی

هغه نفوس چی د فقر تر کرښی هم ټیټ ژوندی کوی: ٪۷۰

هغه نفوس چی د څښلو صحی اوبو ته لاس رسی لری: ٪۲۳

هغه نفوس چی مناسبی حفظ الصحی ته لاس رسی لری: ٪۱۲

منبع:

د *UNDP* د بشری پرمختګ راپور ۲۰۰۶ کال (*www.undp.org* )؛

افغانستان: د پرمختګ په لوری یو هیواد، *UNDP* (2005)؛

د نړیوال بانک د پرمختګ شاخصونه: ۲۰۰۶ کال، د اپریل میاشت (*www.worldbank.org* )

پورتنی کوم ارقام چی کال یی نه دی بیان شوی، د ۲۰۰۴ کال پوری اړه لری.

په افغانستان کی د کالونو راهیسی جنګ جګړی او بی پروایی پر وګړو، ټولنی او اقتصادی پرمختګ باندی ناوړه اغیزه اچولی ده. د هیواد د صنعتی او زراعتی محصولاتو کچه د جنګونو په نتیجه کی له منځه تللی؛ د کاری ځواک هغه ډیر فنی او تکړه کسان له هیواد څخه بهر تښتیدلی او لا تراوسه راستانه شوی نه دی، د ملګرو ملتونو د پرمختګونو پروګرام (UNDP) اټکل کړی چی د ۴.۳ میلیونه افغانان لاتروسه په بهر کی میشت دی.[3]

د بنسټونو د شتون شاخصونو هغه ارقام په ډاګه کوی چی په نړی کی تر ټولو خراب دی؛ د جهانی بانک د راپور پر بنسټ، د افغانستان دا شان ارقام ددی ښکارندوی دی چی د ژوند کچه په افغانستان کی د نیمه صحرایی افریقا څخه هم ټیټه ده.[4] هغه افغانان چی په کلیو کی ژوند کوی حتی د ژوند د هغه لومړنیو او اساسی اړتیاوو لکه د څښلو پاکی اوبه او سړکونو څخه هم برخمن نه دی.

د زده کړی په برخه کی، تقریبا د هیواد ٪۷۵ ښوونځی د پنځه ویشت کلنی جګړی له کبله کی له منځه تللی دی.[5] اوس مهال په افغانستان کی شا او خوا (۵) میلیونه ماشومان مکتب ته ځی. سره له دی چی د طالبانو د رژیم د سقوط څخه وروسته ډیرو کسانو (جینکی او هلکانو) مکتب ته مخه کړی؛ ولی بیا هم (۷) میلیونه ماشومان د سواد له ګټی څخه بی برخی دی.[6] د ډیریځ شمیر ښوونځیو فعالیت د مناسبو تجهیزواتو او درسی موادو د نشتوالی له کبله زیانمن شوی دی. [7]

په نړی کی افغانستان یو د هغه هیوادونه څخه ګڼل کیږی چی په براخه کچه ماینونه پکښی کرل شوی دی. په زر ګونو کسان د ځمکنی ماینونو له کبله یا خو مړه او یا هم زخمی شوی دی، د ملګرو ملتونو اټکل دا څرګندوی چی د افغانستان (٪۴) وګړی ـیعنی تقریباً یو میلیون وکړی-- ددی ماینونونه له کبله معیوب شوی دی. دا حالت د افغانستان په شان چی د روغتیا پالنی محدود امکانات لری؛ د سترو ننګونو سره مخ کوی.

د ملګرو ملتونو د څرګندونو له مخې، په افغانستان کې د عمر اوسط (۴۶,۴) کاله اټکل شوی ده، دا رقم (۲۰) کاله د افغانستان د ګاونډي هیوادونو د عمر څخه ښکته ده، او (۴,۲) کاله د لږ پرمختللي هیوادونو د اوسط عمر څخه ټیټه دی. د ملګرو ملتونو د پرمختګ پروګرام د ارقامو له مخې، له پنځه ماشومانو څخه یو مخکې له دې چې د ۵ کلنی عمر ته ورسیږي خپل ژوند له لاسه ورکوي، او تقریباً په هر (۳۰) دقیقو کې یوه ښځه د حاملګۍ پوري تړې ناروغیو له کبله خپل ژوند له لاسه ورکوي.[8]

سره له دې چې ددې ستونزو د مبارزې لپاره اړین اقدامات اخیستل شوي دي، خو بیا هم ددې مسایلو بیاجوړونه او پرمختګ به د پام وړ وخت او پانګه اچوونې ته اړتیا ولري. د ملګرو ملتونو د پرمختګ پروګرام د وینا له مخې، افغانستان د بیارغاونې د پروسې په اوږده مزل کې لا تراوسه یواځې او یواځې څو محدود ګامه پورته کړي.[9]

## د لاس رسۍ پروسه

د نړیوال تجارت سازمان د لاس رسی پروسه شدیدا نیمګړې او ناقصه ده، ځکه ددې پرځاې چې د اړوند هیواد د پرمختګونو پر لومړیتوبو غور وکړي د نړیوال تجارت سازمان د موجوده غړو په شخصي ګټو څرخیږي. د لاس رسی په هکله پریکړې او تصامیم دمخه د نړیوال تجارت سازمان د وزیرانو د کنفرانس لخوا نیول شوي، په دې کنفرانس کې د نړیوال تجارت سازمان ټول غړي موجود وه.

هغه "مقررات" چې باید موافقه پرې وشي د نړیوال تجارت سازمان د هغه غړو له خوا د اړونده هیواد سره څیړل کیږي، کوم چې غواړي د "کاري ډلې" سره یوځای شي. ستر تجارتي هیوادونه به د کاري ډلې دایمي او ثابت غړي وي. د کاري ډلې ټول غړي باید د لاس رسی ددې مقرراتو سره موافقت وکړي.

د یو مستقلي او قانوني-بنسټ لرونکي ټولنې لپاره، د لاس رسی د قوانینو نشتوالی یوه ستره اندیښنه بلل کیږي. یو هیواد ددې لپاره چې د نړیوال تجارت سازمان سره یوځآی شي باید نه یواځې د نړیوال تجارت سازمان قوانینو ته هوډمن وي، بلکه انفرادي غړي هم کولای چې د درخواست کوونکي هیواد څخه د زیاتو تعهداتو او امتیازاتو غوښتنه وکړي ؛ چې د "مثبت" او "منفي"[10] امتیازاتو په نوم هم یادیږي.[11]

که یو هیواد د نړیوال تجارت سازمان سره یوځای شي یا نشي، ولې هغه پړاو چې دا پروسه پکښې مخ ته ځي، د نړیوال تجارت سازمان د موجوده غړو د لومړیتوبونو او هیلو څخه څرګندیږي. د لاس رسی امتیاز د ځینې هیوادونو لپاره د سیاسي لاملونو له کبله منع شوي، دا په داسې حال کې ده چې ځینې نور هیوادونه سره ددوی د پخوانی مستعمراتي وضعیت یا سیاسي تړلوالي له کبله مرسته شوي ده.

نړیوال تجارت سازمان د نظارت د موقف لپاره د ایران او سوریه متواتري غوښتنې رد کړي، هغه هم له دې کبله چې د امریکا متحده ایالاتو په دې موضوع اعتراض لري. د افغانستان لپاره د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب موافقه په ډیر بی ساري موقع کې برابره شوه، ځکه چې متحده ایالات په افغانستان کې ښکیل وه- او په همدې ورځ د عراق د غړیتوب غوښتننه هم منظوره شوه.

**د افغانستان د لاس رسی اوسنی وضعیت**

د ۲۰۰۴ کال د نوامبر په ۲۱ افغانستان د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب لپاره یو نوی غوښتنلیک واستوه چي دهغوی لخوا ومنل شو او کاری ډله د ۲۰۰۴ کال د دیسمبر په ۱۳ تاسیس شوه، ولی تراوس مهاله د نړیوال تجارت سازمان هیڅ یو غړی د کاری ډلی سره د یوځای کیدلو لیوالتیا نه ده ښودلی. سره له دی، داسی تمه کیږی چي دا حالت به هله بدلون مومی کله چي افغانستان خپل د بهرنی تجارت د نظام قرارداد نړیوال تجارت سازمان ته وسپاری؛ دا کار د لاس رسی د پروسی لپاره لومړی ګام بلل کیږی. ددی قرارداد، چي د درخواست کوونکی هیواد د تجارت نظام بیانوی، مسوده اوس مهال د افغانستان د حکومت لخوا د برابریدلو په حال کی ده، او احتمالاً به د ۲۰۰۷ کال په اوږدو کی د نړیوال تجارت سازمان ته وسپارل شی.

کله چي سند د کاری ډلو غړو ته وویشل شی، ددی د محتویاتو باره کی به ځینی پوښتني او ځوابونه راپورته شی، د سوالونو تعداد او پیچلتیا ددی پوره ترلی؛ چي د کاری ډلی غړی د درخواست کونکی هیواد لپاره څومره لیوالتیا لری، او همدا راز د بهرنی تجارت نظام د قرارداد د وضاحت او تفصیلاتو پوری هم تړاو لری. که چیری سند بشپړ وی او نوموړی هیواد په نړی کی د کمی پاملرنی او نفوذ وړ وی، نو د پوښتنو شمیر به محدود وی. کله چي دا راکړه ورکړه مکمله شی، نو نړیوال تجارت سازمان ته د افغانستان د ننوتلو د مقرراتو او شرایطو په اړوند مذاکرات به شروع شی.

## ۲. د یوی مناسبی قرضی لپاره خبری اتری

نړیوالی ټولنه او مدنی ټولنه په ددی باور ده چي د افغانستان په شان یو هیواد چي د لس ګونو کالونو جګړی څخه د خلاصی په حالت کی دی، او د پرمختګ سترو ننګونو سره مخ دی او د نړی د ډیرو غریبو هیوادونو څخه ګڼل کیږی. باید ددی پرځای چي د نړیوال تجارت سازمان غړیتوب ترلاسه کړی، لومړی باید خپل جدی لومړیتوبونه په پام کی ونیسی.[12] برسیره پردی، بی له دی چي لومړی ددی ستونزو سره مبارزه وکړی، افغانستان د لاس رسی د ځینو احتمالی ګټو څخه ځآن محروموی، او امکان لری چي ځان د ممکنه خطراتو سره مخ کړی.

افغانستان به هله په یو غښتلی موقف وی کله چي په اغیزمنده توګه مذاکرات وکړی. او په هیواد کی داسی سیاسی او اقتصادی ټینګښت برقرار کړی چي د بهرنیو هیوادنو د نشتون سره سره هم وکولای شی خپله څپلواکی وساتی.

سره له دی چي د غړیتوب لومړی ګامونه اخیستل شوی، که چیری افغانستان غواړی چي یوه مناسبه قرضه ترلاسه کړی، باید د تجارت نړیوال سازمان د غړیتوب ترلاسه کولو لپاره بیړه ونلری، څکه په دی کار کی بیړه ددی پرځای چي د هیواد د پرمختګ او نړیوال تجارت د پیاوړتیا لامل شی، کیدای شی د هیواد پرمختګ تر اغیزی لاندی راولی.

**د لاس رسی احتمالی ګټی**

د ټولو پرمختلونکو او لږ پرمختللی هیوادونو لپاره چي غواړی د نړیوال تجارت سازمان سره یوځای شی، پنځه فرضی یا ممکنه ګټی تر سترګو کیږی:

- فنی مرستي سره له اقتصادی او اداری اصلاحاتو چي د لاس رسی د پروسی لخوا د درخواست کوونکی هیوادونو څخه غوښتل کیږی. د ځینی هیوادونو لپاره دا کار د اوسنی روانو اصلاحاتو د چټک کیدلو په مفهوم دی؛
- هغه وده چي غړی هیوادونه یی نړیوال مارکیت ته د لاس رسی له لاری تمه لری؛
- د بهرنی مستقیمی پانګه اچوونی جذب کول؛

- هغه ساتنه چې د څو اړخیزه سیستم له لارې کولای شي واړه هیوادونه د دوه اړخیزه فشارونو او غیرعادلانه تجارت څخه ژغوري؛
- هغه فرصت چې هیوادونو ته د څو اړخیزه سیستم د غړیتوب لخوا ورکول کیږي، ترڅو د نړیوال تجارت د قوانینو جوړلو څخه ملاتړ وکړي.

## د اقتصادي او بنسټيز اصلاحاتو سره مرسته

د هغه هیوادونو لپاره چې غواړي د نړیوال تجارت سازمان سره یوځای شي، د تجارت په ډګر کې فني مرستې د ابتدایی لومړیتوبونو څخه ګڼل کیږي، په ځانګړي توګه د ترټولو غریبو هیوادونو لپاره لکه کمبودیا، نیپال، او افغانستان؛ ځکه چې دوی په بشپړه توګه ځانته منابع او سرچینې نلري.[13]د تجارت په ډګر کې فني مرستې له بیلابیلو منابعو څخه ترلاسه کیږي، لکه ډونور هیودونه، UNCTAD، او د نړیوال تجارت سازمان (دریمې برخې ته مراجعه وکړئ).

دا اصلاحات کیدای شي په ګمرکاتو، معیاراتو او د ټکس لګولو په سیستم کې راوستل شي، د وزارتونو د اداري ظرفیتونو او دهغوی توانمند کول چې ځآنته د تجارت پالیسي طرح کړي؛ او هیواد د ظرفیت لوړول تر څو پر تجارتي قراردادونو لومړی سر خلاص کړي او وروسته یې بیا تر لاسه لاندې ونیسي.افغانستان اوس مهال خپل د ګمرګ او تکس سیستم، قانون جوړنې، او د وزارتونو د اداري ظرفیتونو په ځانګه کې د اړین اصلاحات د راوستلو په حال کې دی.اوس مهال دا څرګنده نه دهې چې ددې اصلاحاتو پایلې به څه وي، ولې اړینه ده چې ددې ځانګو اغیزمندتوب او کارنده توب ته نوره هم وده ورکول شي.

لکه څرنګه چې وویل شول، هر نوی قانون چې وضع کیږي باید د غریبانو او مستحق کسانو اړتیاوې په پام کې ونیسي، ځکه چې دا کسان د افغانستان د ټوکم یوه ستر اکثریت جوړوي.

د یادولو وړ ده چې مونږ دوه ډوله مرستې لرو چې ددوی پر توپیرونو بای رڼا واچول شي؛ اول هغه مرستې چې د تجارت په ډګر کې ترسره کیږي، لکه د ګمرګاتو اصلاحات؛ دوهم هغه مرستې چې د نړیوال تجارت سازمان توافقاتو ته اړوند د داخلي قانون د اصلاحاتو لامل ګرځي، لکه خدمات، اکاډمیک حقوق، او پانګه اچونه.

د مرستو دا وروستي ډول کولای شي افغانستان تجارت پوري اړوند قوانینو ته هوډمن کړي؛ چې ممکن د افغانستان د علاقې وړ ونګرځي او کولای شي په راتلونکې کې د افغانستان پرمختګ او وده مخکې له دې چې د مذاکراتو میز ته ورسیږي له خطر سره مخ کړي.له دې کبله د افغانستان حکومت باید هڅه وکړي چې د مرستندویه ټولنو له مرستو څخه د هغه داخلي اصلاحاتو لپاره استفاده وکړي، کوم چې د افغانستان په ګټه وي، او د هغه اصلاحاتو په وړاندې دې ودریږي کوم چې خورا ضیق او بندیزلګوونکې دي.

کیدای شي داسې پوښتنه رامنځ ته شي، چې مرستې او دا راز اصلاحات خو کیدای شي بې د لاس رسي پروسې څخه هم ترسره شي؛ ولې هغه څه چې امکان نلري هغه دادې چې ددې اصلاحاتو د مخکې بیولو لپاره چې کوم خوځښت ضروري دی هغه د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب نه بغیر ترلاسه کیدلای نشي.

د تجارت د آسانتیاوو لپاره فني مرستې باید د افغانستان د ملي ودې د لومړیتوبونو څخه ملاتړ وکړي او باید کابو اساسي او پیاوړي وي.

د نړیوال تجارت سازمان غړو هوکړه کړې چې دوی به د لاس رسي د پروسې په بهیر کې د لږ پرمختللي هیوادونو سره د پام وړ فني مرستې ترسره کوي، دوی وایي: ( مطلوبې او هماهنګې فني مرستې او د ظرفیتونو لوړوالې باید د لومړیتوبونه پربنسټ تنظیم شي؛ ترڅو له لږ پرمختللي هیوادونو سره مرسته وکړي؛[14] دا مرستې به د نړیوال تجارت سازمان او نورو اړونده څواړخیزه، سیمه ایز، او د دوه اړخیزه پرمختګ شریکانو، او د انضمامي چوکاټ کارکونکو له خوا ترسره کیږي)[15]

ددی هوکړو ترڅنګ، د نړیوال تجارت سازمان د لاس رسي په یو کنفرانس کی د لږپرمختللی هیوادونو د یوی ډلی د خپل نظریی په څرګندولو سره وویل چی د تخنیکی مرستو اوسنی پروګرامونه د غریبو هیوادونو اړتیاوی په کافی اندازه نشی پوره کولای.د یمین د هیواد استازي د ډونرانو لخوا د چمتو شوی مرستو په اړوند داسی دری ځایونو په نښه کړل چی د اندیښنی وړ دی: ځینی روزنیز ورکشاپونه، سره له دی چی په عمومی توګه ګټه ور دی، ولی اکثراً تکراری او خورا عمومی دی او په عملی توګه د مذاکره کوونکو لپاره د لږ ارزښت درلودونکی دی؛ د بیلابیلو ډونران لخوا اکثراً یوشانته هڅی ترسره کیږی او یوشانه مرسته هیوادونو ته وړاندی کوی؛ او کیدای شی د هغه ډونرانو او مذاکره کوونکو تر منځ د مصلحتونو اختلاف رامنځ ته شی کوم چی پخپله د میز په هغه اړخ کی ناست وی.[16]

برسیره پردی، کله چی د نړیوال تجارت سازمان قرضی ورکولو پریکړه امضا شی، نو فنی مرستې باید پای ته ونه رسیږی. د نړیوال تجارت سازمان قراردادونه د پرمختلونکو او لږ پرمختللی هیوادونو د غړو لپاره د تکنالوژۍ د لیږدولو او تخنیکی مرستو د برابرولو په اړوند ځینی مقرارات وضع کړی دی.

سره له دی چی، د اوسنیو غړو تجارب څرګندوی چی د مرستو کچه لاتروسه هم کوچینی ده او تراوسه چی هرڅه شوی او هرڅه برابر شوی اکثر د ډونر هیوادونو په خوښه وه، نه د لیوال هیواد په خوښه.[17] غریب هیوادونه په بیړنۍ توګه پیسو ته اړتیا لری ترڅو خپل د تجارت ځواک لوړ کړی، او تراوسه د ډونر هیوادونو له خوا داسی کوم تعهدات نه دی ترسره شوی شی د انضمامی چوکات له مخی به دوی هیوادونو ته پیسی ورکوی.

له کومه ځایه چی مناسبی فنی مرستې نشی کولای د لاس رسي د مذاکراتو له مضرو امتیازاتو څخه مخنیوی وکړی، ولی دا کار د افغانستان د راتلونکو قراردادونو د ترسره کولو او د افغانستان ته د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب د تصویب لپاره ډیر مهم او حیاتی بلل کیږی.

له دی کبله لازمی ده چی دا مرستی په لاندی ډول وی؛ د اخیستونکی هیواد په ګټه وی، برسیره پر اوسنی مرستو وی، بی له کوم اقتصادی شروطو څخه وی، د اټکل وړ وی، او د مناسب تجارت د قوانینو متتم او بشپړونکی وی.[18]

## نړیوال مارکیټونو ته د بهتری لاس رسۍ له کبله په صادراتو کی زیاتوالی

په نظری توګه، افغانستان کولای شوای د نړیوال تجارت سازمان د هغه اصل له مخی نړیوال مارکیټ ته لا زیات لاس رسي ولری چی پکښی ویل شوی؛ هغه د تجارت شرایط چی د یو هیواد له خوا بل هیواد لپاره وړاند ی کیږی (اساسا د تعرفو په نرخو کی)، باید ټولو تجارتی شریکانو ته ورکړل شی-- دا د عدم تبعیض هغه اصل دی چی د ترټولو مطلوب ملت د معاملو په نامه هم یادیږی. د افغانستان په شان هغه هیوادونه چی د نړیوال تجارت سازمان سره یوځای کیږی، نشی کولای چی دومره ټیټو تعرفو څخه استفاده وکړی کوم چی اوسنی غړی ورڅخه برخمن دی. [19]

سره له دی، د افغان دولت د استازو د وینا له مخی، افغانستان دمخه د هغه امتیازی تجارت د قرارداد څخه ګټه اخلی کوم چی د اروپایی ټولنی، د امریکا متحده ایالتونو، کانادا، جاپان، هند او ایران سره لاسلیک شوی ده.[20]

اوس مهال د پاکستان هیواد سره د نورو امتیازی تجارت تړونونو په اړه خبری اتری روانی دی. د اروپایی ټولنی او متحده ایالاتو "د امتیازاتو عمومی سیستم" سره موافق افغانستان ددی سیستم له ټولو ګټو او امتیازاتو څخه برخمن دی، مګر د اروپایی ټولنی د "هرڅه مګر د اسلاحی د پروګرامونو " څخه برخمن نه دی.[21]

برسیره پردی، د هیواد د ټولو صادراتو څخه تقریبا (٪۸۰) هغه څلورو تجارتی شریکانو ته لیږدول کیږی، له چا سره چی یا دمخه ددی سیستم په هکله خبری شوی او یاهم اوس ورسره خبری روانی دی: دا تجارتی شریکان په نزولی ترتیب په لاندی ډول دی، د امریکا متحده ایالات، پاکستان، هند او اروپایی ټولنه. [22]

په داسی حالاتو کی، ګرانه ده چی څرګنده ګړو چی د نړیوال تجارت سازمان لاس رسی به څنګه افغانستان سره مرسته وکړی چی خپل د لومړنیو تجارتی شریکانو سره بهتر مارکیټونو باندی لاس بری شی.افغانستان د نړی د تر ټولو غریبو هیوادونو په کتار کی راځی؛ هغه هیواد چی تراوسه هڅه کوی چی د هغی جګړی لاس خپل له ګریوانه لیری ګړی کوم چی له کابو دوه لسیزو څخه دده په غاړه کی پروت دی او د افغانستان د اقتصاد بنسټونه، معاملی او تهدابونه یی ویجاړ کړی.

په پایله کی، د پرمختګ په دی پړاو کی، افغانستان خپل د صادراتو لپاره داسی پریمانه او غښتلی بنسټ نلری چی خپل موجوده امتیازی تجارت د قراردادونو له مخی د مارکیټ څخه ګټه پورته کړی.د تجارت اوسنی احصایوی ارقام دا حالت ښه انځوروی؛ د افغانستان د مرکزی احصایی دفتر د راپور له مخی، په ۲۰۰۵/۰۶ کال کی د صادر شوی محصولاتو ارزښت ۱۹۰۰ میلیونه ډالر وه (د ۱۲۰۰ میلیونه بیاصادرولو په ګډون) او د وارد شویو توکو ارزښت ۳۹۰۰ میلیونه ډالره وه، چی د ۲۰۰۰ میلیونه ډالرو په ارزښت د تجارت کسر ښکاروی.[23]

د حکومت د اټکل له مخی دا تجارتی کسر د خالص کورنی محصول ٪۳۰ جوړوی.[24]

د ۲۰۰۷ کال لپاره د جهانی بانک د تجارت وړاندی ویل شوی ارقام څرګندوی چی د افغانستان واردات به ۳۹۹۳ میلیونه ډالره وی او د صادراتو ارقام به ۱۵۵۸ میلیونه ډالره وی؛ چی دا ارقام د وارداتو او صادراتو ترمنځ د ۲۴۳۵ میلیونه ډالرو یو خلا رامنځ ته کوی.[25]

همداراز، د جهانی بانک د اټکل له مخی په افغانستان کی اقتصادی فعالیتونو په ۹۰-۸۰٪ مواردو کی په غیر رسمی توګه ترسره ګیږی. که په سیمه اییزه توګه مقایسه شی؛ په ۲۰۰۵ کال کی ګاونډیو هیوادونو، پاکستان د ۱۵۹۱۷ میلیونه ډالرو توکی صادر کړی؛ د چین هیواد د ثبت شویو صادراتو کچه ۷۶۱۹۵۴ میلیونه ډالره وه چی یو ډیر ستر رقم دی، او کمبودیا، او یو لږ پرمختللی هیواد ۳۱۰۰ میلیونه ډالرو په ارزښت توکی صادر کړی وه.[26]

د افغانستان اقتصاد اوس هم پر کلیوال سکتور باندی متکی ده، چی ډیره برخه یی پر زراعت پوری تړلی ده؛ ځکه چی زراعت په ۲۰۰۵/۰۶ کال کی د خالص کورنی محصول ۳۶.۱٪ اټکل شوی دی. په همدی کال کی د خالص کورنی محصول سره د فابریکو ونډه ۲۴.۸٪ او د تولیداتو ونډه ۳۹.۲٪ وه.[27] برسیره پردی، د مخدره موادو غیرقانونی تجارت د هیواد تجارت تر اغیزی لاندی راوستلی دی؛ اټکل شوی ده چی د مخدرو موادو تولید او تجارت د هیواد د اقتصاد ځلورمه برخه جوړوی. [28]

افغانستان چی اوس مدام بهتر مارکیت ته کوم لاس رسی لری، یقینا هلته به د لا ډیرو ګټو خاوند شی کله چی ددی فرصت ترلاسه کړی چی خپل د صادراتو سکتورونو ته وده ورکړی. دا چی د نړیوال تجارت سازمان به افغانستان ته د مارکیټ لا ډیر لاس رسی ورپه برخه کړی او که نه لا تراوسه د پوښتنی وړ ده.

افغانستان اوس مهال د نړیوال تجارت په سیستم کی کوم رقابتی موقف نلری. امنیتی خطرونه، د وارداتو په ډګر کی لوژیستیکی ستونزی، او دا واقعیت چی افغانی مارکیټونه د ځو غټو داسی لوبغاړو تر ولکی لاندی دی چی د رقابت د اصل مخالفان دی،[29] ټول هغه فکټونه دی چی څرګندوی افغانی محصولات د سیمه اییز معیاراتو له پلوه ارزانه نه دی؛ بلکه حالات خراب راغلی.

سره له دی، دا په دی معنی نه ده چی افغانی تولید کوونکی کوم "ډینامیک" مقایسوی برتری نلری: یعنی ویلای شو، چی دوی کولای شی په راتلونکی کی مقایسوی برتری تر لاسه کړی؛ ولی دا څرګنده نه ده چی د نړیوال تجارت سازمان غړیتوب به په دی زمینه کی څه مرسته وکړی.

د افغانستان د اوسنی تجارت کمزوری شرایط، سربیره پر ورستی رکود، له جګړی وروسته اقتصادی پرمختګ لا تراوسه ۸- ۷.۵ په سلو کی لوړ پاتی شوی دی (بغیر د هیروینو د سرچینو).[30]

د افغانستان حکومت خپل د ملی پرمختګ په موقتی ستراتیژی کی د لومړنی پانګه اچونی لپاره ساحی په ګوته کړی دی، په دی سیمو کی انکشافی سرچینی به په اوږده وخت کی راڅرګندی شی. دا ساحی په لاندی ډول دی: زراعت، مالداری، او د کلیو تصدئ؛ د هیواد د شتمنیو اغیزمنده کارونه؛ کان کیندنه او د استخراجولو صنعت؛ او سیمه اییزه هماهنګی، تجارت، او ترانزیت.[31]

ددی سکتورونو وده او پرمختګ به لږ وخت ونیسی، له دی کبله اړینه ده چی ددی پرمختګ د مساوی ویشلو لپاره اړونده پالیسی ګانی ترلاس لاندی ونیول شی. دا پالیسی باید د هیواد په پرمختګ کی د ښځو ونډی ته هم ځانګړی پاملرنه وکړی. زراعت په ځانګړی توګه ګڼ شمیر ښځی په کار ګماری، او په دی توګه ښځی د زراعت د پرمختګ څخه په مستقیمه توګه برخمنی کیږی.[32]

په لنډ مهاله یا منځ مهاله دوره کی به، د افغانستان ګڼ شمیر فعالی نړیوالی ټولنی او ډونران په ځلور سکتورونو کی پرمختګ تر سترګو کړی، چی دا واړه سکتورونه په نزولی ترتیب د حکومت د لومړنیو پانګه اچونی په سیمو کی کارول کیږی: زراعت، مالداری، او د کلیو تصدئ. دی ډله کی قالینی او ټغرونه؛ وچی میوی او مغزیات (لاندی چوکاټ وګورئ)؛ تازه میوی؛ او د څارویو پوستکی، څرمن یا چرم، او وړئ.[33]

په حقیقت کی، دا هغه توکي دی چی افغانستان یی په تاریخی توګه یو ستر تولید کوونکی وه، او افغانستان بیا هم دی مقام ته رسیدلای شی. د نړیوال بانک د صادراتو د پرمختګ وړاندوینه په دی سکتورونو کی د ارقامو لوړوالی په لاندی شان ښکاروی، په ۲۰۰۵ کال کی د وچی میوی او مغزیاتو صادرات ۱۰۰ میلیونه ډالر وه، دا صادرات به تر ۲۰۱۰ کال پوری ۱۷۶ میلیونه ډالرو ته لوړ شی؛ د تازه میوو صادرات به له ۲۳ میلیونه ډالرو

څخه ۵۷ میلیونه ډالرو ته لوړ شي؛ د پوستکو، څرمنو او وړیو صادرات به له ۸۰ میلیونه ډالرو څخه ۱۶۱ میلیونه ډالرو ته لوړ شي؛ او د قالینو او ټغرونو صنعت به له ۵۰ میلیونه ډالرو څخه ۱۰۱ میلیونه ډالرو ته وده وکړي.[34]

**دویم چوکاټ جدول: د بادامو وده: بزگران نوی مارکیټونه ته اړتیا لري**

د ۲۰۰۶ کال د جولای په میاشت کې د پژواک خبری آژانس د یو مطلب په خپرولو سره څرګنده کړه چې په دی ورستوی کی د سمنګان په ولایت کی د بادام په محصولاتو کی ستر ډیروالی رامنځ ته شوی دی.

په ۲۰۰۶ کال کی په نوموړی سیمه کی بزګرانو د بادام په محصولاتو کی ۸۱۰۰ ټـنـه د ۳۲ میلیونه ډالرو په ارزښت د زیاتوالی اټکل کړی وه، که چیری دا محصولات د ۲۰۰۵ کال د محصولاتو سره پرتله کړو نو څرګنده به شی چی ددی کال محصولات ۶۷۵۳ ټـنـه وه چی مجموعی ارزښت یی ۲۷ میلیونه ډالره وه. په عادی ډول ددی ولایت بادام ۷۰ په سلو کی د پاکستان، هند، چین او متحده عرب اماراتو ته د تاجرانو له طریقه صادر کیږی.

خو بیا هم په ۲۰۰۶ کال کی بزګرانو خپل ددی پریمانه محصولاتو لپاره ډیری هڅی وکړی ترڅو خپل توکو ته بازار پیدا کړی. آیا ددی تګلاری پرمختګ باید دوام پیدا کړی، کیدای شی بادام هغه توکی وی چی د اوسنیو او راتلونکو امتیازی تجارت د قراردادونو او د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب له لاری د مارکیټ لاس رسی څخه ښه ګټه پورته کړی.

منبع یا سرچینه: د بادام تولید کوونکی د یو ښه مارکیټ په لټه کی؛ برات. م – پژواک خبری آژانس، د جولای ۱۲، کال ۲۰۰۶

څرګنده دی چی افغانستان غواړی مارکیټ ته د بهتری لاس رسی ګټی، د امتیازی تجارت د موافقت لیکنو او شاید هم د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب له لاری ؛ اعظمی کچی ته ورورسوی، لومړی افغانستان وخت ته اړتیا لری ترڅو پانګه اچونه ترسره کړی او خپل صنعتی او زراعتی سکتورونو ته وده ورکړی، ترڅو په د صادرولو لپاره په کافی اندازه محصولات ولری.

په دی شرط چی امنیتی وضعیت نور هم بهتر شی، افغانستان باید وتوانیږی چی ددی او داسی نورو سکتورونه بیارغاونه وکړی او په ځانګړی سکتورونو کی یو رقابتی ونډه ترلاسه کړی.

ددی اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره افغانستان اوس هم د نړیوالی ټولنی د پام وړ مرستی ته اړتیا لری. د نړیوال تجارت سازمان د دوها د مذاکراتو په دور کی، د ځینو بحثونو په ترڅ کی وویل شول چی د لږ پرمختللی هیوادونو سره باید نوره هم مرسته وشی، ترڅو دوی د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب څخه ګټه واخلی. که چیری ددی مباحثاتو ځانګی ګل شی، نو افغانستان باید ډاډ ترلاسه کړی چی د لږ پرمختللی هیوادونو ټول هغه امتیازات به ده ته هم ورکول شی.

### د بهرنیی مستقیمی پانګه اچوونی جلب کول

ځینی هیوادونو په دی باور دی چی د نړیوال تجارت سازمان غړیتوب خپله د تجارت د یو مرستندویه چاپیریال لپاره ثبوت دی چی دا کار په خپل وار سره د بهرنی مستقیمی پانګه اچونی پام د صادراتو سکتور ته را اړوی او په نتیجه کی د ځایی مارکیټ لپاره د لوړو محصولاتو د تولید لامل کرځی. یقیناً ویلای شو کله چی دا کار په سمه توګه تنظیم شی، نو بهرنی مستقیمه پانګه اچونه کولای شی د هیواد په متداوم پرمختګ کی حیاتی مرسته وکړی. سره له دی د نړیوال بانک تجارب څرګندوی چی د نړیوال تجارت سازمان غړیتوب د بهرنی مستقیمی پانګه اچونی پر بهیر کمه اغیزه لری.

په هغه پلټنه کی چی د نړیوال بانک د څو اړخیزه پانګه اچونی د تضمین آژانس لخوا ترسره شوه، وویل شول چی په یو ځآنګړی هیواد کی د یوی ټولنی د پانګی اچونی پریکړه د مشتریانو په شتون او د یو مضبوط ټولنیز او سیاسی چاپیریال په فضا کی رامنځ ته کیږی.

د امنیت د نشتوالی له کبله د کارمندانو ځانی خطر، جنګ یا مدنی اندیښنی، د ځایی اسعارو نه تبادله کیدل او د قرارداد نقض ټول هغه ستر خطرونه دی چی د بهرنی مستقیمی پانګه اچونی د پروسی په بهیر کی ممکن رامنځ

ته شی.[35] په حقیقت کی، په پرمختګ کی د پانګه اچونی د ونډی په هکله ، نړیوال بانک د نړیوال پرمختګ په راپور (۲۰۰۵) کی څرګنده کړه چی داسی کوم ثبوت په لاس کی نشته چی ښکاره کړی چی د پانګه اچونی پریکړې د تجارتی قرارداد لیکونو د امضا کولو یا د نړیوال تجارت سازمان غړیتوب تر اغیزی لاندی راغلی. [36]

په ۲۰۰۵کال ورته شواهد اوڅرګندونی د نړیوال بانک له خوا په هغه راپور کی وړاندی شوی چی په افغانستان کی د پانګه اچونی د فضا په هکله لیکل شوی وه.[37] د بانک د څرګندونو سره سم، د پانګه اچونی په اړه نوی پریکړی معمولاً د پنځه اساسی فکتورونو په شتون او نه شتون پوری دلالت کوی: سیاسی او اقتصادی ثبات او امنیت؛ روڼ او واضح قانون؛ د ټکس مناسب نرخونه چی په عادلانه توګه وضع شوی وی؛ مالیات او اساسی بنسټونو ته لاس رسی؛ او یو مناسب او تکړه کاری ځواک. د تجارت څپلواکی او د نړیوال تجارت سازمان غړیتوب په دی لیست کی نه دی راغلی.

سره له دی چی نړیوال بانک راپور ورکوی چی اوس مهال پانګه اچونه په خپله لوړه کچه کی قرار لری او د خالص کورنی محصول ۲۲٪ په سلو کی جوړوی؛ په افغانستان کی د عامه پانګه اچونو اکثریت برخه د نړیوالو مرستو لخوا تمویل کیږی. د ټکس د سیستم او مقرراتو په ځانګه کی څه ناڅه پرمختګ شوی دی، ولی د کافی بریښنا او ځمکی نشتوالی، او بی تجربی کاری ځواک په دی بهیر کی ځینی ستونزی رامنځ ته کوی.

د نړیوال بانک څیړنی څرګندوی چی په افغانستان کی تجارتی ځانګی یواځی په ورځ کی د ۶.۵ ساعتونو لپاره بریښنا لری او ۵۰٪ څخه ډیر تجارتی کمپنی لاتروواوسه په دی نه دی توانیدلی چی ځانته ځکمه پیدا کړی، سره له دی چی په دی تیرو دری کالو کی هڅی کوی. اټکل شوی ده چی په افغانی تصدیو او فابریکو کی یو پر دری برخه کارګران متوسطه یا ترهغه لوړی زده کړی لری او له افغانی مدیرانو څخه یواځی ۶۲٪ متوسطی یا ترهغه لوړی زده کړی لری، چی دا ارقام په ګاونډیو هیوادونو پاکستان او هند کی په ترتیب سره ۹۶٪ او ۹۸٪ مقایسه شوی دی.[38]

منابعو ته د ضعیفو لاس رسي امکانات، او د یاغیانو او ټوپکمارو ډلو ګواښونه، چی د طالبانو د رژیم د راپرځیدلو څخه وروسته اوس هم په لوړه کچه کی قرار لری، نو په داسی حالت کی به څنګه بهرنی پانګه اچوونکی سره له دی چی د نړیوال تجارت سازمان غړی دی افغانستان ته زړه ښه کړی.

### د نړیوال تجارت سازمان د شخړو د حل کولو پوهی ته لاس رسي

د شخړو د حل کولو پوهه د نړیوال تجارت سازمان د کړنلاری یوه حتمی برخه ده چی د غړو هیوادونو ترمنځ د تجارت پوری اړوند شخړی او منازعی له دی لاری حل کیږی. که چیری دا آسانتیا نه وی، نو په دوه اړخیزه شخړو او منازعو کی به هرکله پرمختلونکی هیوادونو د تجارت د سنګین وزنه او غښتلی هیوادونو د زور لاندی راتلل. په داسی حالاتو کی، ددی هیوادونو د ځواک او منابعو د نه برابروالی له کبله به د وړوکی پرمختلونکی هیواد د بریالیتوب امکان ډیر کم وی. د شخړو د حل کولو پوهه په دی معنی ده چی پرمختلونکو هیوادونو ته ورزده کړی چی څرنګه د "غیرقانونی" تجارت څخه ډډه وکړی، ځکه چی دا کار ددوی د تجارت پر بهیر او اقتصاد باندی خورا منفی اغیزې لری.

سره له دی، که له رښتیا څخه سترګی پټی نکړو نو ویلای شو چی تراوسه د لږ پرمختللی هیوادونو لپاره دی آسانتیا لږ موثریت ښوولی.[39] د ۳۴۶ قضیو څخه چی د شخړو د حل کولو هیئت ته تر اوس مهال وړاندی شوی دی، یواځی یوه قضیه د یو لږ پرمختللی هیواد له خوا حل شوه – دا قضیه په بنګله دیش کی د بطریو د ارزانه خرڅولو په اړوند راپیښ شوی وه–.[40] په اصل کی لوړو بیو، د تخنیکی ظرفیت کمښت، او سیاسی فشارونو د لږ پرمختللی هیوادونو زړه ورتور کړی چی له خپلو حقوقو څخه دفاع وکړی، سره له دی چی لږ پرمختللی هیوادونو په څوګونو قضیو کی د دریم ګړی هیواد په څیر ګډون هم کړی دی.

د شخړو د حل کولو پوهه افغانستان ته ددی امکان ورپه برخه کوی چی خپل د تجارتی شریکانو د غیر عادلانه کړنو په صورت کی ددوی څخه خسارت او جبران واخلی. د غیر دولتی موسساتو د قضیو له څیړنو څخه بی

شميره راپورونه دا څرګندوی چی د چین، پاکستان او ایران څخه ډیر شمیر ارزانه اجناس د مالی مرستو په نامه افغانستان ته راننوځی.[41] سره له دی چی د اجناسو ارزانه خرڅول[42] په دی قضیو کی په قانونی توګه په اثبات نه دی رسیدلی، ولی نور لږ پرمختللی هیوادونه لکه موزمبیق او هیاتی، د اروپایی ټولنی او متحده ایالاتو د ارزانه خرڅولو په اړوند واضح او قانونی قضیی لری چی کیدای شی د شخړو د حل کولو د پوهی له لاری وپلټل شی.[43]

د تیورئ له نظره د شخړو د حل کولو پوهه به افغانستان ته فرصت ورکړی چی په راتلونکی کی ددی راز غیرمنصفانه کړنو سره مبارزه وکړی. خو بیا هم دا د شک خبره ده چی آیا افغانستان به وکولای شی چی دا شخړی په بشپړه توګه او په بریالیتوب سره تعقیب کړی که نه.

د بیلګی په توګه، یوه ډیره مهمه ستونزه چی د افغانستان د قالینو فابریکات ورسره اوس مهال مخ دی، دا ده چی کله هم چی افغانی قالینی پاکستان ته د رنګ کولو او پاکولو لپاره لیږدل کیږی، له هغه ځای څخه دریم هیواد ته د پاکستان د محصولاتو په نوم صادر کیږی ( دریم چوکاټ وګورئ). له بده مرغه، د نړیوال تجارت سازمان د مبدأ قوانین ډیر محدود دی، له دی کبله ددی امکان نشته چی افغانستان به وکولای شی دا ځانګړی مسئله د شخړو د حل کولو د پوهی له لاری حل کړی.

**دریم جدول: د افغانستان د قالین اوبدلو صنعت: د تولید د نوم نشتوالی**

افغانستان د بی ساری او لوړ کیفیت قالینو د جوړولو پخاطر ځانته نړیوال شهرت ترلاس کړئ، او قالینی او ټغرونه د هیواد د صادراتو یوه مهمه برخه جوړوی. په ۲۰۰۵/۰۶ کال کی د هیواد د مجموعی صادراتو څخه ۵۳،۹۳٪ محصولات د قالینو په توګه صادر شوی وه.[44] برسیره پر دی، د قالین اوبدلو صنعت داسی یو کار دی چی د هیواد ډیر شمیر غریبی ښځی او سړی پکښی د کار خاوندان کیږی.

د افغانستان د پلټنی او ارزیابی د دیپارتمنت څیړنی ښکاروی چی د قالینو اکثریت برخه مخکی له دی چی دریم هیواد ته صادری شی، پاکستان ته صادر کیږی. سره له دی چی د قالینو د مینځلو او پروسس کولو یوه کارخانه د افغانستان په مزار شریف کی هم شته، خو بیا هم د افغانستان ډیرئ شمیر قالینی پاکستان هیواد ته د پاکولو او پروسس کولو لپاره لیږدول کیږی.[45] په پاکستان کی ډیر شمیر افغانی قالینو باندی دوباره پاکستانی لیبل وهل کیږی، او د پاکستان د محصولاتو په نوم بهر ته صادر کیږی؛ په دی ډول دا کار د افغانستان ددی عنعنوی محصول شهرت خپل تر نقاب لاندی راولی.

د "کریشن اید" مرستندویه ټولنی لخوا چی کوم څیړنه د افغانستان په لری پراته ولایت فاریاب کی ترسره شوی، ورته قصه بیانوی.[46] فاریاب هغه ولایت ده چی د جغرافیاوی لیری والی له کبله د ورستیو مالی مرستو او بیارغاونی پروګرامونو څخه نه دی برخمن شوی، چی په نتیجه کی په دی ولایت کی د فقر اندازه ډیره لوړه ده او د عایداتو منابع ډیری کمی دی.

په پخوا وختونو کی د فاریاب د اوسیدونکو لپاره د قالینو اوبدل او تجارت د عایداتو یوه ښه منبع وه. ددی کسب عوایدو نه یواځی د ولایت ټولنیز او اقتصادی پرمختګ سره مرسته کوله، بلکه د هیواد ملی اقتصاد یی هم پیاوړی کاوه. له بده مرغه په دی ورستیو کالونو کی د بهرنیو معامله ګرانو او دلالانو د استثمار له کبله ددی سکتور عایدات بیخی کم شوی دی. ددی ستونزی د تشدید کوونکی فکتورونو څخه یو هم په دی محصولاتو د پاکستانی معامله ګرو لخوا غلط لیبل وهل دی؛ دوی قالینی په ارزانه بیه رانیسی او په لوړ قیمت یی د پاکستان د محصولاتو په نوم خرڅوی. څرنګه چی هیله کیږی چی د قالین اوبدلو صنعت به په لنډ یا منځنی وخت کی د افغانستان د پرمختګ له اساسی سکتورونو څخه بلل کیږی، نو دی ستونزی سره باید د یوی بیړنی موضوع په څیر معامله وشی.

## د نړیوال تجارت قانون د جوړلو ځواک

اکثراً د نړيوال تجارت سازمان غړی هيوادونه د نړيوال تجارت قوانين د جزئياتو په اړوند خبرو اترو کې برخه اخيستل د نړيوال تجارت سازمان سره د يوځای کيدلو يوه ګټه او امتياز بولي. دا خبره يو څرګنده حقيقت ده چې په دې وروستيو کالنو کې د پرمختلونکو هيوادونو ډله ايز غږ د نړيوال تجارت سازمان تر چتر لاندې خورا ځواکمن او غښتلی شوی دی.

په کانکن کې د نړيوال تجارت سازمان په عالي غونډه کې (۲۰۰۳) د شلو هيوادونو د ډلې لخوا (G20) چې د کډکار هوکړه وشوه، اوس مهال لا نوره هم غښتلې شوې. په ۲۰۰۵ کال کې کومه ناسته چې په هانګ کانګ کې ترسره شوه، د (۱۱۰) پرمختلونکو هيوادونو يو ضعيف او سست اتحاد او يووالی يې وښوود، ځکه چې د موجوده حالاتو مخالف وه.

ددې ناستو څخه دا څرګنده شوه چې د هانګ کانګ خبری اترې نسبت کانکن ته ښې پايلې درلودلې. خو بيا هم دوی ډير اوږد مزل په مخ کې لری. . په هر ترتيب، د نړيوال تجارت سازمان اوس هم د نړۍ د خورا غښتلې غړی هيوادونو په وسيله خپل حاکميت ترسره کوی، او په څرګنده توګه ددې سازمان آجندا ددوی د لوړو آروزګانو او اهدافو ښکارندوی ده. 47

څرنګه چې د نړيوال تجارت سازمان په غړيتوب کې اوږ مهاله ممکنه ګټې پرتې دی، همدار راز ځينې جدی خسارات هم ممکن ولری. پر هغه خطرونو بايد سترګې پټې نشي کوم چې کيدای شي ددې خساراتو له کبله رامنځ ته شي. د لاس رسی شرايط او مقررات چې يو وار وضع شي، نو بيا امکان نلری چې څه بدلون پکښې راوستل شي؛ دا مقررات په اغيزمنده توګه يو هيواد د داسې يو حالت سره تړی چې دا هيواد بيا نشي کولای چې د پرمختللو هيوادونو په شان خپل د پرمختګ او صنعتي کيدلو لپاره پاليسي جوړی کړی.

## د لاس رسی خطرونه

د نړيوال تجارت سازمان له خوا وضع شوی خطراتو حدود تر ډيره اندازې پورې د قرضې شرايطو او قوانينو ته د غاړه ايښودلو پورې تړاو لری. پوهيږو چې د افغانستان د لاس رسی د پروسې شرايط لا تراوسه معلوم ندی، ولې دا څرګنده ده چې هيواد د پرمختګ سختو ننګونو سره مخ دی. اوس مهال د هيواد اقتصاد په کافي اندازه وده نه ده کړی ترڅو نړيوالې سيالۍ سره ګوتې ماتې کړی، ځکه چې د محصولاتو توليد لږ ده او د هيواد د سيالۍ کولو له اړخه کم ځواکې دی.

ددې حالت په پام کې نيولو سره که د نورو هيوادونو د لاس رسی د مذاکراتو سابقه راوسپړو، دا ممکنه ده چې هغه څلور ممکنه خطرات په ګوته کړو کوم چې د نړيوال تجارت سازمان لخواه د افغانستان د پرمختګ پر راتلونکې باندې ممکن اثر واچوی:

- د اقتصاد آسيب منونکی سکتورونه کيدای شي د نړيوالو سياليو له کبله خراب يا کمزوری شي؛
- په ليری پراتو سيمو کې د اساسی خدماتو خصوصي کول کيدای شي د قانون د نشتوالی لامل وګرځی؛
- د بهرنی مستقيمې پانګه اچونی عايدات او ګټې کيدای شي د کورنی اقتصاد د نيم ګړو اړيکو له کبله له منځه لاړی شي.
- د نړيوال تجارت سازمان د تړونونو تطبيق کول کولای شي د دولت مالي سرچينې د چټک پرمختګونو د ننګوونو له مخې منعکس کړی، لکه د روغتيا ساتنه، روزنه، او د اساسی تهدابونو جوړول.

## د اقتصاد آسيب منونکی سکتورونه کيدای شي د نړيوالو سياليو له کبله خراب يا کمزوری شي

د نړيوال تجارت سازمان غړيتوب معمولاً د يو هيواد د تجارتي رژيم د آزادی او خپلواکې په معنا تعبير کيږی. له کومه ځايه چې د تجارت خپلواکی کولای شي د صادراتو لپاره فرصتونه ډير کړی، همدا راز

کولای شي چې ځايي توليد کوونکي د بهرنۍ سيالۍ لپاره چمتو کړي، په خاص ډول په غريبو هيوادونو کې هغه توليد کوونکي کوم چې پخپله شايد ونشي کولای دي کار ته ودريږي.[48]

د زراعت او توليداتو د سکتورونو لړه وده او آسيب منبه ددې خطر رامنځ ته کوي چې محلي او سيمه اييز مارکيټونه د بهرنۍ سيالۍ له کبله له رکود سره مخ شي او په دې سکتورونو کې د کارکونکو ژوند تباه شي. دا شان نمونې په نړۍ کې ډير تر سترګو کيږي.

د بيلګې په توګه، په ۱۹۹۷ کال کې په فليپين کې د غله جاتو د مارکيټ خپلواکۍ، ددې هيواد بزګران د متحده اياالاتو د بزګرانو په وړاندې د سنګينې سب سايډي لاندې واچول؛ ځکه چې د فليپين د بزګرانو کالنی اوسط عايد ۳۶۵ ډالره وه او د متحده اياالاتو د بزګرانو کالنی اوسط عايد يواځې د سب سايډي له اړخه ۲۰۰۰۰ ډالره وه.

تقريبا د فليپين نيمايي بزګران دمخه د فقر تر کرښې لاندې ژوند کاوه او د متحده اياالاتو د بزګرانو سره سيالۍ نورهم دوی او ددوی د کورنيو غړي د فقر او نيستۍ سره مخ کړل. په جوميکا کې د لبنياتو صنعت، په جنوبي افريقا کې د بوری او قنادۍ صنعت، او په زمبابوی کې د نساجۍ د صنعت مثالونه هم کټ مټ همدارنګ ستونزه انځوروي.[49]

د افغانستان په شان لږ پرمختللی هيوادونو لپاره ډيرې زمينې شته دي چې د تعرفو په کارولو سره خپل آسيب منونکي داخلي سکتورونه له سيالۍ څخه وساتي؛ ترڅو د ملي پرمختګ لپاره کليدي اهداف وټاکي او يا د غريبو ټولنو د اعاشې او استوګنې لپاره مرسته وکړي.

د افغانستان عمده کليوالي اقتصاد، چې ٪۶۷ کارګران پکښې په کار ګمارل شوي او اکثريت يې هم ښځې دي،[50] او د توليداتو د ظرفيت د ټيټې کچې په پام کې نيولو سره؛ کورنی توليد کوونکو ته بايد په ځانګړي ستراتيژيک سکتورونو کې ددې فرصت ورکول شي ترڅو لومړی د ملي مارکيټ په کچه خپل محصولات لوړ کړي، او بيا خپل ظرفيت لوړ کړي ترڅو په نړيواله کچه سيالي وکړي.

افغانستان حق لري چې خپل د تجارت بهير د زراعت د پياوړتيا لپاره تنظيم کړي، ترڅو له يوې خوا د هيواد لپاره خواړه تامين شي، او له بلې خوا د کليو د پرمختګ او د وګړو د ودې لپاره لاره هواره شي. ددې لپاره چې د راتلونکې صنعتي پرمختګ ضمانت وشي، افغانستان بايد کافي اندازه انعطاف پذيره وي ترڅو خپل واړه صنعتونو ته وده ورکړي.

دا ستراتيژي چې اساساً دمخه د غربي هيوادونو او شرقي آسيا "ټايګر يا پړانګ هيوادونو" لخوا ددوی د پرمختګ په لومړيو پړاونو کې تعقيب شوې ده؛ د ځينې اجناسو واردول محدود کړي، او د هغه خامو موادو، او منځګړي اجناسو واردولو ته به اجازه ورکړي، ترڅ، ځايي توليد کوونکي په دي توانيږي چې بهرنۍ سيالۍ سره مسابقه وکړي.[51]

افغانستان دمخه يو فوق العاده خپلواک تجارتي نظام لري، د تعرفي سيستم کوم چې په دې وروستيو کې معرفي شوی دی ټول اجناس په شپږو ډلو ويشي، له خامو موادو څخه نيولې تر راحتی او تجملی اجناسو پورې ټول پدې سيستم کې شامل دي. او پر دې اجناسو چې کوم نرخونه لګول شوي دي هغه د ٪۲.۵ څخه تر ٪۱۶ پورې توپير کوي.[52]

ګاونډي هيواد پاکستان خپل د زراعتي تعارفو لپاره اوسط ٪ ۱۸.۷نرخ لګولی او د غيرزراعتي تعرفو لپاره په اوسط ډول ٪ ۱۶.۲نرخ لګولی دی. حتی چين خپل د زراعت د تعرفو لپاره اوسط ٪ ۱۶.۲ نرخ لګولی، چې د افغانستان د راحتی او تجملی اجناسو د تعرفو د نرخ څخه هم لوړ دی ( د راتلونکې ودې لپاره د وچو ميو او غير سيتروسی ميوو د کليدي سکتورونو په ګډون)

ملګرئ لږ پرمختللی هيواد کولمبيا خپل د زراعتي تعارفو لپاره اوسط ٪ ۱۹.۵نرخ لګولی او د غيرزراعتي تعرفو لپاره په اوسط ډول ٪۹.۱۵ نرخ لګولی دی،[53] سره ددې چې دا نرخونه د يو غريب هيواد لپاره چې اساسي اقتصادي يې زراعت جوړوي ډير کم بلل کيږي.

له دی کبله افغانستان خپل ترټولو مهم سکتورونو کی دمخه د یوی سختی سیمه ایزی سیالی سره مخ دی. د حیرانتیا وړ نده، چی ګڼ شمیر راپورونه دا څرګندوی چی د ګاونډیو هیوادونو لخوا ارزانه اجناس د هیواد مارکیټونو ته راننوځی، د بیلګی په توګه به د څو توکو څخه نوم واخلو، لکه د ایران څخه بطریٔ، له چین څخه جعلی چرمی اجناس، او د ایران او پاکستان څخه قالینی.[54]

سره له دی چی افغانستان به د مذاکراتو میز ته د داسی تعرفی سیستم سره ځی کوم چی دمخه خورا خپلواک دی، ولی بیا په یقینی ډول ویلای شو چی افغانستان به د داسی فشارونو سره مخ شی چی د لا ټیټو نرخونو غوښتونکی به وی.

له دی کبله افغانستان باید ددی فشارونه په وړاندی د یوی بیرنی مسئلی په څیر مقاومت وکړی. هر هغه تجارتی نظام چی خپل له موجوده حالت څخه ډیر خپلواک شی، نو د هیواد د وړو تولید کوونکو لپاره په یو آفت بدلیږی، او نتیجه به هم دا وی چی د ارزانه وارداتو سیل به نور هم د هیواد په لور جاری شی.

ددی په عوض کی، د افغانستان حکومت باید دا حق ترلاسه کړی چی خپل د هر سکتور لپاره مناسبی تعرفی تعینی کړی، ترڅو له دی لاری زراعتی او صنعتی پرمختګ د پرمختیا سره مرسته وشی. لازمی ده چی پرمختلونکی هیوادونه په دی وتوانیږی چی د تعرفو د کارولو لپاره مناسبه پالیسی ترلاس لاندی ونیسی ترڅو خپل د پرمختګ د لومړیتوبونه تندی ته ځواب وویل شی. د یو هیواد په پرمختګ کی د وخت دمخه د معینو تعرفو لګول کولای شی دا هیواد دا ډول کمزوری کړی چی ونشی کولای حتی خپل د فقر د کمولو د پالیسي اهداف ترسره کړی. افغانستان باید اوس مهال ددی اصل څخه ګټه پورته کړی چی د لږ پرمختللی هیوادونو اوسنی غړی مجبور ندی چی خپل پر ټولو صنعتی محصولاتو باندی تعرفی ولګوی، او دوی دی ته اړین ندی چی پر زراعتی محصولاتو د لګول شویو تعرفو اندازه ټیټ کړی.

لوړی تعرفی که چیری مناسب ډول سره کینودل شی نو د افغانستان په شان هیواد لپاره به اضافی ګټی ولری، چی بیا ددی ګټو پیسی باید په لومړنیو سکتورونو باندی ولګول شی لکه، روغتیا پالنه، زده کړی، او د اساسی تهدابونو جوړول. افغانستان د نړی د هغه هیوادونو څخه دی چی دولتی عایدات یی تر ټولو ټیټ دی (په کال کی د ۶.۵٪ خالص کورنی محصول په ۲۰۰۶/۰۷ کال کی). [55]

## په لیری پراتو سیمو کی د اساسی خدماتو خصوصی کول کیدای شی د قانون د نشتوالی لامل وګرځی

اګر چه د تجارتی خدماتو په هکله عمومی قرارداد یو انعطاف پذیره توافق دی چی غړی هیوادونو ته اجازه ورکوی چی څه وخت خپل د خدماتو سکتورونه څپلواک کړی، پرمختلونکی هیوادونه که چیری ځانګړی سکتورونه خلاص کړی نو کیدای شی د لوړو فشارونو لاندی راشی.

په مناسب شرایطو کی خصوصی سکتور کولای شی تر اړتیا ډیر مالیات مهیا کړی، او په ځینی خدمتی سکتورونو کی کولای شی د لا اغیزمنتوب لپاره ځینی تغیرات او اصلاحات راولی. خو سره له دی، جوته شوی چی دا کار هغه مهال ډیر اغیزمند ده کله چی په عامه کچه ترسره شی او د ښه تنظیم شوی سیستم له لاری ترسره شی. [56]

د نورو هیوادونو په شان په افغانستان کی هم ځینی حساس سکتورونه شته چی د روغتیا او هوساینی لپاره حیاتی او اساسی خدمات چمتو کویی؛ لکه اوبه، ښوونه او روزنه، روغتیا پالنه او د بریښنتا برابرول.

که څه هم د دولت لخوا ددی خدماتو برابرول غیر کافی دی، ولی د نورو هیوادونو تجربه څرګندوی چی ډیر جدی خصوصی خدمات نشی کولای حتی غریبو ښاریانو ته هم ورسیږی. دا کار په هغه هیوادونو کی ډیر امکان لری چی د افغانستان په شان غرنی وی، ځکه چی دلته ګڼ شمیر وګړی په لیری پراتو او کلیواله

سیمو کې ژوند کوي چې ورته یې ستونزمن دي.لدې کبله دا دولتونو خدمات باید د تجارتي خدماتو د عمومي تړون له تعهداتو څخه وایستل شي.

په ۲۰۰۵ کال کې د هانګ کانګ په ناسته کې، پریکړه وشوه چې د دوها په مذاکراتو کې به د لږ پرمختللی هیوادونو څخه غوښتنه نه کیږي چې خپل خدمات خپلواکه کړي، ولې داسې محدودیتونه د لاس رسي د پروسې لپاره نه دي ذکر شوي.افغانستان باید سر خلاص کړي چې له نورو هیوادونه څخه هم غوښتنه شوي ترڅو د تجارتي خدماتو د عمومي توافقاتو ګن شمیر تعهدات امضا او غاړه ورته کیږدي، چې کولای شو د ملګرو لږ پرمختللي هیوادونو واناتو، کمبودیا او نیپال څخه نوم واخلو. کمبودیا خپل تعهدات په ټولو یولسو اساسي سکتورونو کې د تجارتي خدماتو د عمومي توافق د ۳۴ فرعي سکتور د احکامو سره سم ترسره کړي.

نیپال خپل تعهدات په ټولو ۱۱ اساسي سکتورونو او ۲۸ فرعي سکتورنو کې ترسره کړي، او واناتو خپل تعهدات په ۱۰ اساسي سکتورونو او ۱۹ فرعي سکتورنو کې ترسره کړي. د ټولګا څخه، له دې چې لږ پرمختللی هیواد نه دی، غوښتنه وشوه چې د هغه فرعي سکتورونو تعهدات امضا کړي کوم چې کاری ډلی غړو خپله هم لاتروسه ورته هوډمن ندی، لکه ابتدایی زده کړی او روغتیا پالنه.

## د بهرنی مستقیمی پانګه اچوونی عایدات او ګټی کیدای شی د کورنی اقتصاد د نیم ګړو اړیکو له کبله له منځه لاړی شی

ګن شمیر څوملتیزی کمپنی پرمختلونکو هیوادونه څخه د اسامبلی یا توزیعی نکاتو په ډول کار اخلی، چی د محدودو ورسته پاتو اړیکو یا تکنالوژی د لیږدلو له لاری د ځایی کوربه اقتصاد سره اړیکی نیسی.

د کارونو د اړتیاوو، ځایی مقرراتو او تکنالوژی د لیږدولو له لاری بریالیو پرمختللونکو هیوادونو په خپل اقتصادی ډګر کی د بهرنیو پانګه اچوونی له لاری د پام وړ ګټی ترلاسه کړی. سره له دی، تجارت پوری تړلی د پانګه اچونی اقداماتو په اړوند د نړیوال تجارت سازمان توافقات د ځایی مقرراتو اجازه نه ورکوی.

په حقیقت کی، دا هغه لار وه چی ننیو پرمختللو هیوادونو یی له طریقه د پرمختګ زینی ته وختل، ددی ورستیو بریالیتوبونه له قصو څخه کولای شو د جنوبی کوریا څخه یادونه وکړو.[57] د افغانستان ځینی ګاونډیان، لکه پاکستان، لاتراوسه خپل د موټرونو، موټرسایلکونو او ځینی نورو صنعتونو لپاره د ځایی مقرراتو څخه کار اخلی.[58]

تجارت پوری تړلی د پانګه اچونی اقداماتو په اړوند د نړیوال تجارت سازمان توافقات د ځایی مقرراتو اجازه نه ورکوی. سره له دی چی د تکنالوژی لیږدلو او د کارونو اړتیاوو ته اجازه ورکوی.

د افغانستان د پرمختګ د ننګونو د شدت په پام کی نیولو سره، افغانستان ته باید ددی اجازه ورکول شی چی د تجارت پوری تړلی د پانګه اچونی اقداماتو لپاره د یوی انتقالی دوری په هکله خبری اتری وکړی. ترڅو ډاډ ترلاسه کړی چی بهرنی پانګه اچوونه د افغانستان په صنعتی او خدمتی سکتورونو کی جامع ونډه لری.

دا انعطاف پذیری د نورو اوه کالونو لپاره بیا نوی شوه، چی د هانګ کانګ د ۲۰۰۵ کال د اعلامیه د ایف په ضمیمه کی په لاندی ډول راغلی: "لږ پرمختللی هیوادونو حق لری هغه موجوده معیارات چی ددوی له تعهداتو څخه انحراف لری په موقتی توګه د تجارت پوری تړلی د پانګه اچونی اقداماتو د موافقت نامی له مخی وساتی... لږ پرمختللی هیوادونه حق لری دا موجوده معیارات د یوی نوی انتقالی دوری پوری وساتی کوم چی اوه کاله دوام کوی.[59]

برسيره پردي، دی انتقالی دوری ته د افغانستان د پرمختګ شاخصونو سره بايد ارتباط ورکړل شی، ترڅو که چيری دا اووه کالونه د محلی صنايعو د مهم پرمختګ لپاره کم وی، نو دا دوره کيدای شی نوره هم اوږده شی.

د افغانستان حکومت بايد داډ ترلاسه کړی چی هر نوی ملی قانون چی د پانګه اچونی په اړه وضع کيږی بايد هيواد ددی احتمالی انعطاف پذيری يا امتياز څخه منع نکړی

## د دولت مالی سرچينی کيدای شی د چټک پرمختګونو د ننګوونو څخه منعکسی شی

د نړيوال بانک د اټکل له مخی، د نړيوال تجارت سازمان هر ټرون د (۵) ميليونه آمريکايی ډالرو په شا او خوا کی پريوځی.[60] مګر د افغانستان لپاره به ددی ټرون نرخ دومره ګران نه وی، ولی بيا به هم دا کار د افغانستان لپاره حياتی ارزښت ولری، ځکه چی دا يو داسی هيواد دی چی نوی له جنګ جنګړی څخه په خلاصون دی او د بوديجی لومړيتوبونه يی په هغه سکتورونو کی پراته دی چی د فقر د کمولو سره تړلی دی؛ لکه د بنسټيزه تهدابونو برابرول، روغتيا پالنه او روزنه.

د دولتی عايداتو کچه مخ په لوړيدو ده، مګر بيا هم ټيټه ده او د هستوی بوديجی د ارزښت څخه ډيره لری ده، د نړيوال تجارت سازمان د ټرونونو قيمت کولای شی د هيواد لپاره يو ستر مالی بوج پريوځی.

دا حالت د افغانستان د قضيی سره مرسته کوی ترڅو افغانستان خپل د لاس رسی مذاکراتو کی ورو ورو پرمختګ وکړی، او وکولای شی د لاس رسی قيمت د وخت په تيريدو سره تقسيم شی او د ټرونونو د ترسره کولو له لوری د امکان تر اندازی مرستی ترلاسه کړی.

نيپال خپل د نړيوال تجارت سازمان د تعهداتو د ترسره کولو لپاره د مالی مرستو د نشتوالی سره مخ شو، سره له دی چی دی هيواد سره د قرضی لاس ته راوړلو د امضا کولو پر مهال د بوديجی د ورکولو وعده هم شوی وه.

دا خبره بايد هيره نشی چی افغانستان اوس هم د سياست له اړخه ثبات نلری، ځکه چی د هيواد په ګوټ ګوټ کی اخ اوډب او لاريونونه اوس هم ترسترګو کيږی.

لکه څرنګه چی د کليو د بيارغاونی او پرمختيا پخوانی وزير ښاغلی حنيف اتمر وايی: که چيری بيوزله خلک چی د افغانستان اکثريت جوړوی، د پرمختيا څخه محروم شی، دا به نه يواځی ملی سوکالی او سياسی ثبات رامنځ ته نکړی بلکه هيواد به نور هم د بی ثباتی لور ته بوځی. يو بيسواده کاری ځواک چی د راتلونکی سوکالی لپاره لږ هيله مند وی، په ډير آسانی سره د سخت دريځو ښکار کيدای شی، ولی يو باسواده کاری ځواک نه يواځی دی اړخه خوندی دی بلکه د هيواد د اقتصادی ودی لپاره ډير ګټور پريوځی.

د نړيوال تجارت سازمان درنی غوښتنی کولای شی د افغانستان پرمختګ متاثره کړی او کيدای شی افغانستان د هغه پاليسيو د ترسره کولو څخه منع کړی کوم چی د هيواد د پرمختيا د عادلانه ويش څخه مونږ ته ډاډ راکوی. له دی کبله د افغانستان په لاس رسي پروسه کی ښکيلی ټولی ډلی مخکی له دی چی دی مذاکراتو ته داخلی شی بايد دا خبره په فکر کی وساتی.

## د لږ پرمختللی هيوادونو لپاره آسانتياوی

ددی ټکی په پام کی نيولو سره چی لږ پرمختللی هيوادونه د پرمختګ د پروسی څخه برخمن نه دی او دوی د فقر سره مبارزه کی نسبت نور هيوادونو ته له سترو ننګونو سره مخ دی، نړيوالی ټولنی ددوی لپاره د څواړخيزه تجارتی سيستم په هکله ځينی ځانګړی امتيازات ورکړی.

Getting fundamental right, Oxfam Briefing Paper, June 2007

د بیلگی په توگه، د زراعت قرارداد، لړ پرمختللی هیوادونه له ځینی تعهداتو څخه معاف کوی؛ ددی تعهداتو کی له مخی دا هیوادونه دی ته اړ وه چی داخلی ملاتړ او د صادراتو سب سایډی به کموی او مارکیټ ته لاس رسی به ډیروی.د سب سایډی او عوضی اقدماماتو تړون لږ پرمختللی غړی او خوار پرمختلونکی هیوادونه د صادراتو د سب سایډی د تحریم څخه معاف کوی.

په ګڼ شمیر هغه قضیو کی چی د پرمختلونکی هیوادونو غړو ته د یوی انتقالی دوری اجازت ورکول شوی وه (لکه تجارت ته اړوند د اکاډمیک حقوق، تجارت ته اړوند د پانګه اچونی معیارات، روغتیا ساته، او د نباتاتو د روغتیا ساتنی معیارات، د تجارت تخنیکی خنډونه، د گمرکاتو ارزیابی)؛ د لږ پرمختللی غړو لپاره ډیر وخت ورکړل شوی وه.[61]

لاندی جدول د نړیوال تجارت سازمان په موافق نامو کی د لږ پرمختللی هیوادونو لپاره د ځانګړی او توپیری معاملو د مقراراتو لیست څرگندوی. همدا راز دا جدول څرګندوی چی څرنګه د نړیوال تجارت سازمان سره یوځآی کیدونکی لومړني دوه لږ پرمختللی هیوادونه د لاس رسي شرایط ددی مقراراتو سره سمون خوری.

که داسي وبولو چې کيداى شي د افغانستان سره هم د لاس رسي په مذاکرتو کې همداسي چلند وشي، نو د کمبوديا او د نيپال د هيوادونو د لاس رسي پروسه د افغانستان لپاره لاربښوونکې ده:

**لومړى جدول: د لږ پرمختللي هيوادونو (LDC) لپاره ځانګړى او توپيرى معاملې(STD)**

| د WTO قرارداد | د LDC لپاره د SDT مقررات | د LDC هيوادونو ترلاسه شوى SDT |
|---|---|---|
| د زراعت قرار داد | لږ پرمختللي هيوادونه د کمولو له تعهداتو څخه معاف دي. | **کمبوديا:**<br>د صادراتو پر سب سايډى لږول شوى اندازه (٪۰).<br>پر ساده زراعت د لږول شوى تعرفي وسط ٪۳۰.<br>د زراعتي اعظمي تعرفه ٪۶۰.<br>د تعرفي د برخي د نرخ اعاده |
| د روغتيا پالنې او نباتاتو د پالنې د معياراتو تطبيق کول | لږ پرمختللي هيوادونه دا امکان لرى چې د توافق نامې د مقرراتو عملي کول تر پنځه کالو پورې وروسته واچوى، | **کمبوديا:** څلور کاله تر ۲۰۰۸<br>**نيپال:** درى کاله تر ۲۰۰۷ |
| د نساجي او کاليو توافق ليک | لږ پرمختللي هيوادونو سره خورا مطلوب سلوک کيږى نسبت هغه ډلو ته چې د مصوني انتقال دورى په عملي کيدلو کې ترسه کيدلو | د نساجي او کاليو د توافق ليک د ختميدلو مرحله د دواړه هيوادونو پورى تړلې ده |
| د تجارت د تخنيکي خنډونو قرارداد | د لږ پرمختللي هيوادونه د تخنيکي مرستو او تخنيکي مقرراتو په برابرولو کې بايد ځانګړى پاملرنه وشي | **کمبوديا:** د ۳ کالو انتقالي دوره تر ۲۰۰۷<br>**نيپال:** د ۳ کالو انتقالي دوره تر ۲۰۰۷ |
| تجارت ته اړوند د پانګه اچونې معيارات | لږ پرمختللي هيوادونه ۷ کاله انتقالي دوره لرى ترڅو تجارت ته اړوند د پانګه اچونې هغه معيارات ليرى کړى چې د موافق ليک سره موافق نه وى. | د دواړه هيوادونو بيرني غاړه ايښودنه لپاره |
| د سب سايډى او عوضي اقداماتو توافق نامه | پرمختلونکې هيوادونه چې د فى نفر کالني عايد يې له ۱۰۰۰ ډالرو کم وى (او هغه چې په اوومه ضميمه کې ليست شوى)، د صادراتو د سب سايډى د تحريم څخه معاف دي.<br>پر صادراتو د سب سايډى لګول د لږ پرمختللي هيوادونه لپاره تر آته کالو پورى د تطبيق وړ نده، او د نورو پرمختلونکو هيوادنو لپاره دا موده تر پنځه کاله ده. | بيرني غاړه ايښودنه د دواړو هيوادونو لپاره، سره له دې چې کمبوديا د صنايعو د صادرولو د سب سايډى د تحريم څخه منع شوى وه. |
| د ګمرکاتو د ارزيابي قرارداد | د ځيني پرمختلونکې هيوادونو تر پنځو کالو انتقالي دوره | کمبوديا: پنځه کاله تر ۲۰۰۹ پورى<br>نيپال: درى کاله تر ۲۰۰۷ پورى |

| د WTO قرارداد | د LDC لپاره د SDT مقررات | د LDC هیوادونو ترلاسه شوی SDT |
|---|---|---|
| په خدماتو کی د تجارت په اړوند عمومی قرارداد | لږ پرمختللی هیوادونو ته د GATS د څلورمی مادی د عملی کولو لپاره خاص لومړیتوب ورکول شوی (د پرمختلونکی هیوادونو پراخ ګډون) او هغه ستونزو ته دی خاصه توجه وشی چی لږ پرمختللی هیوادونه ورسره مخ شوی. لږ پرمختللی هیوادونو ته دی خاصه توجه وشی ترڅو دوی بهرنی عرضه کوونکی راوبولی ترڅو د تکنالوژۍ په لیږدولو، روزنه، او د پرمختلونکی مخابراتو د نورو فعالیتونو لپاره مرسته وکړی | **کمبودیا:** خپل تعهدات په ټولو ۱۱ اساسی سکتورونو کی د تجارتی خدماتو د عمومی توافق د ۳۴ فرعی سکتور د احکامو سره سم ترسره کړی.<br>**نیپال:** خپل تعهدات په ټولو ۱۱ اساسی سکتورونو او ۲۸ فرعی سکتورنو کی ترسره کړی، |
| تجارت ته اړوند د اکاډمیک حقوقو پر اړخونو قرارداد | د TRIPS د مقرراتو د ترسره کولو لپاره تر ۱۰ کالونو تأخیر، د اوږدیدلو د امکان سره. غړی هیوادنه باید د لږ پرمختللی هیوادونه لپاره د تکنالوژۍ د انتقال د تشویق پخاطر مشوقات برابر کړی. لږ پرمختللی هیوادونه مجبور نه دی چی د درملو په اړوند د TRIPS د ترون د دوهمی برخی، ۵ او ۷ فصل د ۲۰۱۶ کال د جنوری تر لومړی نیټی پوری عملی کړی. د نړیوال تجارت سازمان د ۲۰۰۵ کال یو حکم د لږ پرمختللی هیوادونه غړو ته تر ۲۰۱۳ کال پوری وخت ورکړی ترڅو د TRIPs د ترون سره توافق پیدا کړی.<br>د نړیوال تجارت سازمان غړی، نیپال او کمبودیا به له دی څخه ګټه پورته کړی. | **کبودیا:** دری کاله تر ۲۰۰۷ پوری<br>(سره له دی چی د نړیوال تجارت سازمان کنفرانس وروسته وویل چی دا کار به کمبودیا څواک کم نکړی چی د ۲۰۱۶ د ضرب العجل څخه ګټه پورته کړی، البته چی د درملو د ترون د دوهمی برخی د ۵ او ۷ فصلونو په پام کی نیولو سره ) |
| د هغو قوانینو او کړنلارو پوهه کوم چی د مشاجرو د حل کولو په مقصد کاریږی. | د مشاجرو په ټولو پړاونو کی دی د لږ پرمختللی هیوادونو ته ځانګړی پاملرنه ترسره شی. لږ پرمختللی هیوادونه کیدای شی د عمومی ریس یا د مشاجراتو د حل کولو د هیت لپاره د ښه دفترونو غوښتنه وکړی. | د لاس رسی پر مهال د تطبیق وړ نه وه. |
| د تجارت د پالیسی د بیا کتنی میکانیزم | لږ پرمختللی هیوادونو ته ددوی د بیا کتنو لپاره ډیری آسانتیاوی ورکړل شوی دی، په ځانګړی توګه د تخنیکی مرستو په برابرولو کی. | د لاس رسی پر مهال د تطبیق وړ نه وه. |
| د تادیی د بیلانس پر مقرراتو پوهه | کیدای شی د مشورو ساده کړنلاری وکارول شی. | د لاس رسي پر مهال د تطبیق وړ نه وه |
| د واردولو د جواز قرارداد | د غیراتوماتیک جوازونو په تخصیص کی، هغه واردکونکو ته باید خاصه پاملرنه وشی، کوم چی له لږ پرمختللی | د لاس رسي پر مهال د تطبیق وړ نه وه |

Getting fundamental right, Oxfam Briefing Paper, June 2007

| د WTO قرارداد | د LDC لپاره د SDT مقررات | د LDC هيوادونو ترلاسه شوی SDT |
|---|---|---|
| | هيوادونه څخه جنس وارد کوی. | |

منبع يا سرچينه: د لږ پرمختللی هيوادونو لپاره ځانګړی او توپيری معاملی، د تجارت او پرمختګ په اړوند د نړيوال تجارت سازمان کميټه، اوکتوبر ۲۰۰۴ کال

د افغانستان په ګډون د لږ پرمختللی هيوادونو غړو ته هم بايد دا آسانتياوی ورکړل شی. سره لدی چی د کمبوديا او نيپال بوديجه په ځينی ډګرونو کی د پام وړ آسانتياوی ځرګندوی، مګر دواړه هيوادونو د ځانګړی او توپيری معاملو له مقرراتو څخه بی برخی پاتی شول. د دواړه نه غوښتنه وشوه چی خپل د تعرفو نرخونه د نورو ګن شمير پرمختلونکو هيوادونو د غړو په شان کم کړی، ترڅو ددوی د خدماتو سکتورونه په پراخه پيمانه خپواکه شی. برسيره پردی، تقريباً په ټولو قضيو کی انتقالی دوره په پوره ډول نه ده ورکړل شوی.[62]

که د کاری ډلی غړی د لاس رسی په مذاکراتو کی له نرمی څخه کار واخلی، نو افغانستان بايد په يقينی ډول توقع ولری چی د نيپال او د کمبوديا د غړيتوب له شرايطو څخه به هم ډيری ښايسته لاس ته راوړنی ولری. سره له دی، افغانستان بايد ددی دوه هيوادونو له تجاربو څخه درس واخلی ترڅو يوه مناسبه قرضه لاس ته راوړی.

د لږ پرمختللی هيوادونو او پرمختلونکی هيوادونو لپاره د لا نورو ځانګړی او توپيری معاملو په باره کی خبری اتری د دوها د مذاکراتو په دور کی روانی دی. د دوها مذاکراتو ته د "پرمختګ دور" نوم ورکول شوی ده، ځکه چی دا مذاکرات به دهغه مسايلو سره مبارزه کوی کوم چی د پرمختلونکو هيوادونو د حکومتونه لپاره د ځآنګړی اهميت درلودونکی دی. تراوسه ډير لږ پرمختګ ترسره شوی، سره له دی چی ددی مذاکراتو د ليکلو پرمهال، کومی خبری اتری چی د ۲۰۰۶ کال په جولای کی معلق پاتی شوی وی، دوباره را ژوندی شوی.

سره له دی افغانستان بايد هغه څه پا پام کی ونيسی کوم چی تراوس مدام پری موافقه شوی ده، په اساسی توګه[63] هغه موارد چی د دوها په مذاکراتو کی د لږ پرمختللی هيوادونو لپاره بيان شوی او بايد ډاډ ترلاسه کړی چی د افغانستان لپاره به هم په همدا راز امتيازاتو خبری اتری کوی. ترنن ورځ پوری، لږ پرمختللی هيوادونه د غير زراعتی مارکيټ لاس رسی او د زراعتی تعرفو د کمولو څخه معاف شوی دی، او دوی د خدماتو په اړوند د څو اړخيزه غوښتنو څخه مستثنی کرځول شوی دی. ددی معافيتونو سره سره، د قرضی هغه لږپرمختللی عناصر چی پری توافق شوی وه، خورا مايوس کوونکی دی.

لږ پرمختللی هيوادونه به د "ډيوټی-فری" او "کوټا-فری" مارکيټ ته لاس بری شی. چی دا کار به ۹۷٪ مواردو کی د ټولو شتمنو هيوادونو او دهغه هيوادونو د تعرفو څخه ترسره کيږی چی دداسی يو کار وس او توان ولری. ددی کار درناوی کيږی، ولی د تعرفو د حدودو څخه ۳٪ محروميت به د امريکا متحده ايالات، جاپان او نور هيوادونه په دی وتوانوی چی پرمختلونکی هيوادونو ته د ستراتيژيک ارزښت محصولات معاف کړی- لکه د منسوجاتو معافيت، چی دا کار د وخت په تيريدلو سره کيدای شی د افغانستان د قالينو د صنعت سره هم تړاو پيدا کړی.

له تخنيکی اړخه لږ پرمختللی هيوادونه حق لری چی دهغه تصميم څخه ګټه پورته ګړی کوم چی کولای شی د امتيازی حقوقو فسخه د يو تړون د دايمی اصلاح په څير تعديل کړی. که چيری پرمختلونکی هيوادونو ونشی کولای چی دا محصولات توليد کړی نو دا کار دوی په دی برلاسی کوی چی د انحصاری دواګانو هغه اصلی محصول را وارد کړی. له بده مرغه، دا پروسه دومره بيوروکراتيکه ده، چی له کومه وخته چی دا ابطال په ۲۰۰۴ کال کی را وپيژندل شو، يو هيواد هم تراوسه ندی بريالی شوی چی اصلی دواګانو ته لاس رسی پيدا کړی.[64]

که چیری صنعتی هیوادونو د دوها د مذاکراتو د دور په پیل کی خپلی وعدی ترسره کړی وای، د افغانستان اونورو لږ پرمختللی هیوادونه لپاره د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب احتمالی ګټو به ډیره وده کړی وه. ددی خبرو په له منځه تللو سره، په دی نژدی راتلونکی کی د هیڅ خوځښت امکان نه لیدل کیږی.

د نړیوال تجارت سازمان سره داسی په وچه کی ایسار پرمختلونکی هیوادونو شته چی اوس هم د ځانګړی حقوقو لپاره هلی ځلی کوی ترڅو داډ ترلاسه کړی چی دوی په دی وتوانیږی چی د ځو اړخیزه تجارت سیستم له امتیازاتو څخه باخبره شی، دی امتیازاتو کی د ترانزیت آزادی هم شامله ده. د یو په وچه کی ایسار پرمختلونکی هیواد په شان، افغانستان باید د لاس رسی په مذاکراتو کی همدا شان موقف ځانته خپل کړی.

## ۳. د لاس رسی پروسی په وختی پړاونو کی عمل کول

د افغانستان د لاس رسی پروسه به کابو پنځه کاله دوام وکړی[65] چی د نړی د ډیرو غښتلی هیوادونو سره به ډیری کړکیچنی مذاکرات ولری. له دی کبله ددی پروسی د کلیدی لوبغاړو لپاره -د افغانستان حکومت، نړیوال ډونران،UNCTAD ، او د نړیوال تجارت سازمان- داسی ډیر څه شته چی باید په دی وختنی پړاو کی یی ترسره کړی، ترڅو افغانستان ته ددی مهلت ورکړی چی د یوی مناسبی قرضی لپاره خبری اتری وکړی.

### د افغانستان حکومت

نړیوال تجارت سازمان ته د لاس رسیدنی مذاکرات به د یو غریب هیواد لپاره چی محدودی منابع لری ډیری ننګونکی وی. لاندینی سپارښتلیکونو چی د نورو هیوادونو د تجاربو په اساس لیکل شوی دی، به څرګند کړی چی افغانستان څرنګه کولای شی د لاس رسی د مذاکراتو لپاره چمتو شی.

***نړیوال تجارت سازمان سره یوځای کیدل باید د هر دول سیاسی هدف څخه جلا وی.***

هر حکومت چی غواړی له دی پروسی سره یوځای شی، باید هره مسئله په پوره غور سره تر بحث لاندی ونیسی، نه دا چی ځان د فشار لاندی واچوی او په بیړه سره دا مذاکرات د ضرب العجل د تعین شوی نیتی پوری ورسوی بی له دی چی پایلو ته یی پام وکړی.

د کاری ډلی غړی داسی غواړی چی خپل مستقبلی غوښتنی ددی پروسی تر ختم پوری پریږدی،[66] او په دی ډول دوی پر ذیعلاقه هیواد باندی فشار اچوی چی ددوی سره موافقت وکړی. که چیری یو ضرب العجل وټاکل شی، نو دا کار د یو هیواد آسیب منونه باندی فشار نور هم زیاتوی ترڅو فوق العاده زیانمنو امتیازاتو ته غاړه کیږدی.

***د بهرنی تجارت د نظام د ترون لپاره آماده ګی***

دا سند، چی د یو هیواد د اقتصاد او تجارتی نظام د ارزښت باره کی تفصیلات ورکوی، هغه اساس دی چی مذاکرت ځینی پیل کیږی. له دی کبله ډیره مهم خبره دی چی پخپله ذیعلاقه هیوادونه دا سند د UNCTADپه مرسته بشپړ کړی، ترڅو دوی د خپل تجارت د نظام څخه پراخه معلومات ولری او سر یی پری خلاص وی.

یواځې په دې پوهې سره یو هیواد کولای شي چې موضوعات تحلیل کړي او په مذاکراتو کې ځآنته یا د مدافع او یا د مهاجم دریځ غوره کړي. ددې په مرسته به هر هیواد ځانته تصمیم ونیسي چې په کومو حالاتو کې د کاري ډلې د غړو د غوښتنو سره توافق وشي، بې له دې چې د پرمختګ مستقل خراب کړي، او څرنګه د لوړو قیمتونو غوښتنې دې د ارزانو قیمتونو د غوښتنو سره تعویض شي.

### د مدنی ټولنې ګډون

لازمه ده چې د د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب د مستقبل په اړه د عامه پوهاوي کچه لوړه کړو، او د نړیوال تجارت سازمان د لاس رسي پروسې د ګټو او ارزښتونه په اړوند خبرو اترو کې مدنې ټولنې هم ګډون وکړي. هغه عامه وګړو ته چې ممکن د د نړیوال تجارت سازمان ته د لاس رسیدنې له کبله اغیزمند شي، باید مستقل او هدفمند معلومات ورکړل شي، چې کولای شو ددې ډلې څخه د غریبو کلیواله ټولنو څخه نوم واخلو چیرته چې رسیدل ګران کار دی.

د مدنې ټولنو سازمانونو لپاره باید داسې فرصتونه مهیا شي چې وکولای شي د پروسې په هره برخه کې خپلې کارنده سلامشوري او مرستې ترسره کړي. کلیدي لیوالې ډلې- لکه د تولید کوونکو ډلې، د ښځو ډلې، تجاران، او د افغانستان د تجارت اتاقونه- کولای شي د لاس رسي د مذاکراتو په بهیر کې ارزښناکه مرستې او مشوري وړاندې کړي. غیر دولتي موسسات یا انجوګانې کولای شي د مدنې ټولنو سازمانونو او دولت سره د مجلسونو او سیمینارونو په برابرولو او د رسنیو په رابللو مرسته وکړي، ترڅو ددې اهدافو په ترلاسه کولو کې خپله ونډه ترسره کړي.

د عامه اړیکو، مطبوعاتو، او انجو ګانو پراخه او کارنده همکاري، کولای شي داسې یو چاپیریال رامنځ ته کړي چې د کاري ډلې غړي لږ جرئت وکړي چې غیرعادلانه غوښتنې ترسره کړي. له دې لارې، انجوګانې او د مدنې ټولنو سازمانونه د یو هیواد سره مرسته کوي چې د نامناسبه غوښتنو په وړاندې ټینګ ودریږي.

### د یو مذاکره کوونکې ټیم جوړول

په عملې توګه، د مذاکراتو لپاره باید یو اوږد مهاله، نخبه او اختصاصي ټیم جوړ شي چې د نړیوال تجارت په اړه بشپړ معلومات او پوهه ولري. دا ټیم باید وکولای شي چې د د بهرنې تجارت د نظام د ترون مسوده تیاره کړي. د دولتي ریاستونو ترمنځ اغیزمنده هماهنګي باید موجود وي ترڅو د مذاکراتو د ثبات او منطقي ترون او جدیت څخه ډاډمن شو. د حکومت د بیلابیلو ریاستونو څخه د مذاکراتو جوړ شوی ټیم باید ددې کار په لاس ته راوړلو کې مرسته وکړي.

د بیلګې په توګه کبودیا، نړیوال تجارت سازمان ته د لاس رسیدنې لپاره خپل د وزیراتو څخه یو ټیم جوړ کړ، چې د فنې مذاکرتو وړو ټیمونه ته یې لارښووني کولې. د افغانستان د حکومت لپاره به د ګټې څخه خالې نه وي که چیري دوی د کمبودیا د مامورینو سره په دې هکله اړیکې ټینګې کړي. د مذاکره کوونکو د ټیم په غړو کې بدلون چې د پوهې او تجربې د له منځه تلو لامل ګرځي، او د دولت د بیلابیلو ادارو څخه د نظریو اختلاف، ټول هغه فکتورونه دي چې د یوې مناسبې قرضې لاس ته راوړلو لپاره د یو هیواد چانس کموي.

### فنې مرستې

فنې مرستې د اخیستونکې هیواد په خوښه او د هیواد د لومړیتوبونو په اساس ترسره کیږي. دې لومړیتوبو کې فقر او د ټولنیزې اغیزې تحلیل هم شامليږي چې د اړونده هیواد لخوا د لاس رسي پروسې په لومړنیو پړاونو کې طرح او وړاندې کیږي. کله چې دا کار د کلیدي ډونرانو لخوا تمویل او مدنې ټولنو د سلامشورو سره ترسره شي، نو د یو هیواد د آسیب پذیره سکتورونو لپاره د نړیوال تجارت سازمان د

غړیتوب ممکنه نتایج څرګندوی. له دی کبله دا کار باید نړیوال تجارت سازمان ته د لاس رسیدلو ممکنه ټولنیز، اقتصادی، محیطی او کلتوری اغیزو یوه پراخه ارزیابی څرګنده کړی. او د ټولنی په مختلفو ډلو تفریق شوی اقتصادی اغیزی وڅیړی.

فنی مرستی باید د اړوند هیواد مذاکره کوونکو ته روزنه ورکړی ترڅو د نړیوال تجارت سازمان پر تړونونو سر خلاس کړی. دواړه پروسی به اړونده هیواد سره مرسته وکړی چی له یو باخبره موقف څخه خبری اتری وکړی. یواځی هغه مهال چی یو هیواد د لاس رسی د اثراتو څخه یو سوچ او آیدیا ولری کولای شی د فنی مرستو پروګرامونه خپل د اهدافو د لاس ته راوړلو لپاره رهنمایی او اداره کړی.

### په دوه اړخیزه مذاکراتو کی باید احتیاط ترسره شی

افغانستان په ډیره لنډه موده کی ډیر شمیر تجارتی قراردادونه امضأ کړی؛ له کومه ځایه چی ښکاری، ددوی څخه یو هم نه برینی چی مکمل دوه اخیزه تجارتی قرارداد وی، د ترټولو مطلوب ملت د اساساتو سره سم هر امتیازارت چی یو هیواد ته د دوه اړخیزه تجارتی قرارداد له مخی ورکول کیږی؛ باید د نړیوال تجارت سازمان ټولو غړو ته ورکول شی. د بیلګی په توګه، ویتنام د متحده ایالاتو سره یو دوه اړخیزه تجارتی قرارداد ومنلو چی د نړیوال تجارت سازمان ځینی مثبت امتیازات یی درلودل، دی قرارداد ویتنام ته ددی ځواک ورکړو چی د یو ابتدایی پرمختګ د بودیجی لپاره مذاکرات ترسره کړی.67

### د کاری ډلی د ګروپ سره ملګرتیا

ملګری هیوادونو کولای شی د نړیوال تجارت سازمان د غړو لخوا وړاندی شوی ځینی احتمالی زیانمنې غوښتنې کمی کړی. د بیلګی په توګه، برازیل او هند د نیپال دملاتړ لپاره پاڅیدل او ددوی په استازیتوب یی ډیری هڅی وکړی ترڅو دوایی محصولات د TRIPS د امتیازاتو څخه جلا کړی او د متحده ایالاتو څخه د قرضی د کموالی غوښتنه وکړی. سره له دی چی، لا تراوسه د افغانستان د کاری ډلی په څیره کی هیڅ یو غړی میدان ته نه دی راغلی، ولی ممکنه ده چی ځایی ملګری هیوادونه، لکه هند، سعودی عربستان او د عربستان متحده امارات به ددی ډلی سره یوځای شی.

### د پرمختګ وضعیت ته پاملرنه

افغانستان باید په دی واقعیت پوه شی چی یو لږ پرمختللی هیواد او په غرونو کی ایسار او وچی ته محاط هیواد دی، او خپل ددی وضعیت نه باید ډیره ګټه پورته کړی. او باید د نړیوال تجارت سازمان دی تصمیم ته دی پاملرنه وکړی چی د لږ پرمختللی هیوادونو د لاس رسی لپاره لاربښونی برابروی او په غرو کی ایسار هیوادونو ته د ترانزیت د آزادوالی لپاره کمپاین کوی.68

د افغانستان د حکومت لپاره مهمه ده ترڅو څرګنده کړی چی دده له نظره د لږ پرمختللی هیواد د لاس رسی لپاره دا هره لاربښوونه څه معنی او مفهوم لری. او باید خپل د مثبت سیاست څخه هم ګټه پورته کړی، څکه چی په نړی کی ځینی ډیر قوی هیوادونو د افغانستان د بیارغاونی او پرمختګ لپاره ډیره پانګه اچولی ده. یقینا چی دا هیوادونه به هم د کاری ډلی یوه برخه وی.

دا ټوله آماده ګی وخت او منابع ته ضرورت لری، له دی کبله افغانستان باید د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب په لومړنیو پړاونو کی په کراره کراره ګام اوچت کړی ترڅو ښه آماده شی او فقط دومره باید پوه شی چی کله نورو مشورو یا مرستو ته اړتیا لری.

## نړيوال ډونران

نړيوالو ډونرانو د افغانستان لپاره د تجارت د سهولت په اړه؛ لکه د ګمرکاتو اصلاحات، د تجارت د پاليسۍ جوړول، د صنعتي پارکونو جوړول، او په بنسټيزه سکتورونو کې د پانګه اچونې په اړه ډېرې مرسته ترسره کړې دي.

د نورو هيوادونو د تجاربو په پام کې نيولو سره، د جهاني بانک په ګډون نور ډونران بايد د افغانستان د دولت سره مالي مرستې ترسره کړي ترڅو دا هيواد وکولای شي مخکې له دې چې مذاکرات شروع شي د نړيوال تجارت سازمان د قراردادونو د منلو ارزش ارزيابي کړي.

لکه څرنګه چې په پورته کې يادونه وشوه، هر ډول فني مرستې بايد د افغانستان د دولت په غوښته ترسره شي او د حکومت د لومړيتوبونو پر بنسټ دي ولګول شي.

ډونر هيوادونه او نور هغه هيوادونه چې افغانستان ځيني مرستې ترلاسه کوي، اوس مهال د پاليسۍ په تصاميمو کې مهمه ونډه او نفوذ لري. د يادونې وړ ده چې دا نفوذ بايد د تجارتي مذاکراتو ميدان ته ونه غزول شي. د ډونر هيوادونو له خوا هر هغه کوشش چې وغواړي د لاس رسي پروسې او مذاکراتو باندې نفوذ واچوي يا يې تر کنټرول لاندې ونيسي، بايد په کلکه وغندل شي.

ډونر هيوادونه د نړيوال تجارت سازمان ټيمونو ته بايد د ملايمو او دوستانه مذاکراتو ارزښت ورپه ګوته کړي. که چيرې ډونر هيوادونه د افغانستان په بياجوړوني او پرمختګ لپاره خپلې درنې پانګه اچونې په ياد وساتي، نو هيڅکله به هم دوی کوشش ونکړي چې ددې پروسې مخه ونيسي، ځکه چې د نړيوال تجارت سازمان قرضه د افغانستان سره مرسته کوی ترڅو متداوم پرمختګ وکړي او د فقر څخه ځان خلاص کړي.

ګڼ شمير ډونر هيوادونو د نړيوال تجارت سازمان سره د افغانستان يوځای کيدلو هغه هم د پرمختګ په دې پړاو کې يو لړ اندېښنې ښودلي، دوی وايي چې افغانستان د ډېرو ننګونو سره مخ دی، لاتروسه يې سم ثبات او ټينګښت نه دی ترلاسه کړی، د د بهرنيو هيوادونو تر قوي اثر لاندې دی.[69] دا ډونران بايد خپلې اندېښنې د افغانستان حکومت ته څرګندې کړي او د افغانستان د کراره او محتاطانه مذاکراتو د پروسې څخه ملاتړ وکړي.

## د تجارت او پرمختګ په اړوند د ملګرو ملتونو کنفرانس (UNCTAD)

د UNCTAD د اساسي دندو څخه يوه هم د د پرمختلونکي هيوادونو لپاره د اړونده فني مرستو برابرول دي، چې په دې مرستو کې بايد د لږ پرمختللي هيوادونو اړتياوو او اقتصاد ته ځانګړې پاملرنه وشي.[70] د لاس رسي پروسې په بهير کې، دا مرسته د پرمختلونکي هيوادونو د مذاکره کوونکو ډلو د روزنې لپاره کارول کيږي، او د بهرني تجارت د نظام د تړون د مسودې په جوړولو کې مرسته کوي، او د هيواد سره همکاري کوي ترڅو هغه سل ګونو پوښتنو ته ځواب ورکړي، چې د لاس رسي د پروسې په مذاکرات کې به دا هيواد ورسره مخ شي.

لازمي ده چې د UNCTAD د افغانستان حکومت لپاره خپلو مرستو ته دوام ورکړي، ځکې چې ددوی د بې ساري ماموريت يوه برخه هم د اقتصاد نړۍ سره د پرمختلونکي هيوادونو يوځای کيدل دي. په قاطع توګه، دا سازمان د هيڅ کوم ډونر هيواد اهداف نه څرګندوي او په خپلو کارونو او سلامشورو کې بيطرفانه دريځ لري.

همدا راز د يادولو وړ ده چې UNCTAD د افغانستان د حکومت سره کار کوي ترڅو سکتوريزې څيړنې پيل کړي او پر کليدي سکتورونو باندې د د تجارت د خپلواکي مختلفي کچې وازمويي. د فقر او ټولنيزو اغيزو د انالايز تر څنګ، دا هغه اساسي ميتودونه دي چې هيوادونو کولای شي له يو باخبره موقف څخه خبري اترې

وکړی، ددی کار د ارزښت په پام کی نیولوسره، سکتوریزی څیړنی باید د لاس رسی د پروسی په لومړنیو پړاونو کی ترسره شی.

## د نړیوال تجارت سازمان یا WTO

د نړیوال تجارت سازمان د لاس رسی ځانګه د لاس رسی پروسی ته لار هواره کوی، ولی دا ماموریت په غاړه نلری چی په مذاکراتو کی ښکلیل شی. کارکونکی د ټولو ډلو (کاری ډلو غړی او اړوند هیواد) سره د هماهنګی په مقصد اړیکی ټینګوی او ورسره مرسته کوی چی د ستونزو په حل کولو کی لاس بری شی. سره ددی هم د نړیوال تجارت سازمان د سکرتریت مامورین بیطرفه پاتی دی.

سکرتریت د نړیوال تجارت سازمان د قراردادونو د پوهی په اړه ځینی فنی مرستی برابروی، چی دا روزنه دوی په جنیوا کی ترلاسه کړی ده. سره له دی، د فنی مرستو اکثریت برخه د ډونرانو او UNCTAD له خوا برابریږی. ددی ضرورت شته چی دهغه لاری مکمله څیړنه وشی له کومی چی د نړیوال تجارت سازمان غړی او پخپله د نړیوال تجارت سازمان د لږ پرمختللی هیواد لاس رسی ته تقرب کوی. دا تقرب باید د لږ پرمختللی هیوادونو ځانګړی مشخصات وپیژنی او ورسره مرسته وکړی ترڅو دهغه ناوړه حالاتو او مشکلاتو سره مقابله وکړی، چی دوی به د نړی د تجارت په سیستم کی ورسره مخ شی.

دا باید د لاس رسی د موجوده پالیسی د تطبیق سره یوځای پیل شی. د "لږ پرمختللی هیوادونو د لاس رسی" په هکله چی کومه پریکړه د نړیوال تجارت سازمان په عمومی اسامبلی کی د ۲۰۰۲ کال د دسامبر په میاشت کی ترسره شوه، په واضحه توګه یی هدف په پروسه کی د یو بنسټیزه بدلون راوستل وه. دا کار یوه داسی ساده او اغیزمنده پروسه رامنځ ته کوی چی په ترڅ کی یی د نړیوال تجارت سازمان غړی په خپلو غوښتنو کی محدودیت راولی. او واضحاً څرګندوی چی لږ پرمختللی هیوادونه د ځانګړی او توپیری معاملو څخه برخمن دی او دوی ته باید د انتقالی دوری ګټی او امتیازات ورکول شی.[71]

د نړیوال تجارت سازمان سکرتریت، مسولیت لری ترڅو ډاډ ترلاسه کړی چی غړی هیوادنه پر نیول شوی تصامیمو عمل کوی، او ددی پروسی په درک کولو کی کلیدی ونده لری. دا باید غړی هیوادونه دی ته اړباسی چی د لږ پرمختللی هیوادونو د لاس رسی په مذاکراتو کی خپل مسولیت ترسره کړی.

## پایلی او سپارښتنی

که افغانستان غواړی چی د نړیوال تجارت سازمان د غړیتوب ممکنه ګټی ډیری او ممکنه خطرات کم کړی، باید د مذاکراتو د پیل لپاره بیړه ونکړی. په نړی کی د ترټولو غریب هیواد په څیر، چی هر سکتور یی اوس هم وروسته پاتی دی، او د صادراتو لپاره ډیر ضعیف بیخ لری، افغانستان باید خپل د کلیدی سکتورونو ملاتړ وکړی ترڅو د وخت په تیریدو سره مخکی لدی چی د څواړخیزه تجارت سیستم سره مخ شی، پرمختګ وکړی،

ددی عمل د ترسره کولو لپاره، دا کار باید مکمله انعطاف پذیری ترلاسه کړی ترڅو تجارت او صنعتی پالیسی او هغه کورنی قوانین بنسټیزه شی کوم چی د پرمختیا او د فقر د کمولو څخه ملاتړ کوی. په تأسف سره، پر ډیر شمیر لږ پرمختللی هیوادونو او نور لیوال هیوادونو باندی د نړیوال تجارت سازمان د کاری ډلی د غړو لخوا فشار اچولی شوی ده چی دا ډول پالیسی ګانی بنسټیزی کړی. ددی لپاره چی د افغانستان پرمختګ ته د یوی قرضی بهترین چانس ورکول شی، آکسفام باور لری چی لاندینی تعهدات باید د هغو هیودونو لخوا ترسره شی، څوک چی په دی پروسه کی ښکیل دی، ترڅو نوموړی هیواد ته د یوی ښی او مناسبی قرضی د ورکولو چانس برابر شی:

- **نړیوال ډونران** باید د افغانستان لپاره اړینی فنی مرستې او د فقر او ټولنیزو اغیزو ارزونی ترسره کړی؛ ترڅو افغانستان سره مرسته وشی چی د **WTO** سره خبری اتری وکړی او داسی توافق دی ورسره وتړی چی د افغانستان د پرمختګ اړتیاوو ته ځواب ویونکی وی. لازمی ده چی دا مرستی د

لاندی ځانګړتیاوو درلودونکی وی؛ د اخیستونکی هیواد په ګټه وی، برسیره پر اوسنی مرستو وی، بی له کوم اقتصادی شروطو وی، د اټکل وړ وی، او د مناسب تجارت د قوانینو متمم او بشپړونکی وی.

- **د افغانستان حکومت** ددی لپاره چی خپل د پرمختګ لومړیتوبونه ترسره کړی، لازمه دی چی په دی باره کی خپله پالیسی باندی کار وکړی، او باید خپله انعطاف پذیری وساتی ترڅو د شرایطو سره سم په ډول سکتورونو کی په مناسبه توګه تعارفی وضع کړی؛ په ټولو سکتورونو کی دی د پانګه اچوونی کچه کنټرول کړی، او د ډونرانو له خوا د قانونی اصلاحاتو د پروسو څارنه وکړی تر څو ډاډ ترلاسه شی چی دا کار د لږ پرمختللی هیوادونه په ګټه تمامیږی.
- **ډونور حکومتونه** باید افغانستان ته د ډیرو قرضو ورکولو څخه تر هغه مودی ډډه وکړی، تر کومه چی افغانستان د لاس رسي د پروسه په بهیر کی وی، په ځانګړی توګه هغه حکومتونه چی د WTO لخوا لږ پرمختللی هیوادونه ته ورکړل شوی امتیازاتو څخه انکار کوی.

برسیره پردی، د نورو پرمختلونکی او لږ پرمختللی هیوادونو د لاس رسی په رڼا کی، آکسفام باور لری چی د لاس رسی پروسه د LDC هیوادونه لپاره، په تیره بیا افغانستان، باید په لاندی ډول سره اصلاح شی:

- WTO باید د اوسنی لږ پرمختللی هیوادونو د لاس رسی د پریکړی (۲۰۰۲) پر بنسټ یو عادلانه او هدفمنده سیستم جوړ کړی، دا پالیسی به لږ پرمختللی هیوادونه پر دی بریالی کړی چی خپل د پرمختګ اړتیاوی څرګندی کړی، نه دا چی د کاری ډلی د غړو غوښتنی څرګندی کړی.
- باید ډاډ ترلاسه شی چی لږ پرمختللی هیوادونه د ټولو هغه امتیازاتو څخه برخمن دی چی دوی یی مستحق دی؛ د بیلګی په توګه، د ځانګړی او توپیری معاملو څخه برخمن تیا، د تطبیق لپاره تمدید شوی مودې، او ټول هغه معاف شوی وجوهات چی د موسس غړو له خوا ترسره شوی، په ځانګړی توګه د هغو په شمول کوم چی د "دوها د مذاکراتو په دور کی" پری موافقه شوی ده.
- ددی لپاره چی ډاډ ترلاسه شی چی دا راز یو سیستم ترلاس لاندی نیول شوی دی، نو د **کاری ګروپ غړی** باید هڅه وکړی ترڅو د مذاکراتو او خبرواترو بڼه شفافه او رڼه وی او په پایله کی دوی یو د قناعت وړ نتیجی ته ورسیږی.
- هغه لږ پرمختللی هیوادونو چی ددی پروسی سره د یوځای کیدلو په حالت کی دی، حق لری چی ددی نوی پروسی څخه پوره ګټه پورته کړی؛ او که اړتیا وی کولای شی د لږ پرمختللی هیوادونو "مثبت" امتیازات چی دمخه په دوه اړخیزه یا څو اړخیزه مذاکراتو کی ترسره شوی، بیرته ځینی واخلی.
- هیڅ هیواد، بلکه په ځانګړی توګه لږ پرمختللی هیوادونه نشی کولای چی د لاس رسی پروسی په خبرو اترو کی تر هغه پوری ګډون وکړی، تر هغه چی ددوی په هیواد کی د فقر او ټولنیزی اغیزی څیړنه په بشپړه او آزادانه توګه نه وی ترسره شوی.[72]

# یادونی او مأخذونه

[1] دا برخه د اروپایی کمیسیون لخوا د غرنی پرمختلونکی هیوادونو په هکله اعلامیه څخه اقتباس شوی، د سپتمبر ۱۷ کال ۲۰۰۲:

دا بیانیه د ښاغلی جان بی. ریچاردسن لخوا د اروپایی کمیسیون په استازیتوب د غرنی پرمختلونکی هیوادونو د وزیرانو په دریم کالنی ناستی کی وړاندی شوه (نیو یارک).

[2] د افغانستان لیریتوب او او د پرمختګ د ټیټی کچی له کبله د هیواد د احصایو ارقامو راټولول ډیر ستونزمن کار دی. په نتیجه کی د بشری پرمختګ روستنی ارقام چی د نړیوال بانک او UNDP له خوا بیان شوی د ۲۰۰۴ یا ۲۰۰۵ کال پوری اړه لری.

[3] په افغانستان کی د طلایی عصر د پرمختګ اهداف، UNDP

www.undp.org.af/about_us/mdg_afg/mdg_afg.htm

[4] په افغانستان کی د پانګه اچونی چاپیریال: په بی ثباته چاپیریال کی د فرصتونو څخه ګټه اخیستل، نړیوال بانک ۲۰۰۵.

[5] د هر افغان ماشوم لپاره وړیا او باکیفیته زده کړی؛ آکسفام نړیوال، نوامبر ۲۰۰۶، صفحه ۱۲

اصلی منبع د GTZ موسسه او د افغانستان د پلان وزارت .

[6] لکه څرنګه چی پورته یادونه وشوه

[7] افغانستان: د پرمختیا په لوری هیواد، ( UNDP 2005)

[8] لکه څرنګه چی پورته یادونه وشوه

[9] لکه څرنګه چی پورته یادونه وشوه

[10] مثبت تعهدات هغه تعهدات دی چی د بوراګوای د مذاکراتو په دور کی موجود غړو د تعهداتو څخه هم پراخ دی. منفی تعهدات هغه دی چی د نړیوال تجارت سازمان موجوده غړو د حقوقو څخه انکار کوی.

[11] دا برخه د اکسفام د مجلس د اسنادو څخه اخیستل شوی ده،

'Extortion at the Gate: Will Viet Nam join the WTO on Pro-Development Terms?', Oxfam International 2004.

[12] دا بیانیه د هغه لیدنو کتنو پر بنسټ بیان شوی چی د افغان او نړیوال پرمختګ د متخصصینو سره په کابل کی ترسره شوه، جولای ۲۰۰۶

[13] د نړیوال تجارت سازمان ته د لاس رسی: د هیوادو تجارب او فنی مرستی؛ GTZ، ۲۰۰۴ کال، صفحه ۶

[14] د لږ پرمختللی هیوادونو لاس رسی، WT/L/508، د نړیوال تجارت سازمان ، د جنوری ۲۰، کال ۲۰۰۳

[15] انضمامی چوکات هغه پروسه ده چی د لږ پرمختللی هیوادونه د دولتونو سره د مرستی لپاره جوړ شوی ده، ترڅو ددوی د تجارت ظرفیت لوړ کړی، او تجارتی مسایل د پرمختګ په ټولو ملی ستراتیژیو کی شامل کړی.

[16] ال-صبری، ام (۲۰۰۵)؛ د یمن تجارب، د نړیوال تجارت سازمان ته لاس رسی څخه: د هیواد تجارب او فنی مرستی؛

report from a joint BMZ/BMWA/GTZ/World Bank Conference held in Berlin, 17–19 November 2004.

[17] د تجارت لپاره د مرستو د اندازی لګول: د غریبو هیوادونو سره څرنګه مرسته وشی ترڅو له فقر څخه خلاصون پیدا کړی. نړیوال آکسفام ۲۰۰۵ کال.

[18] لکه څرنګه چی پورته یادونه وشوه

[19] د نړیوال تجارت سازمان د قوانینو مطابق هغه تجارتی لومړیتوبونه چی د MFN اساسات ترپښو لاندی کوی، په دی کار کی د پرمختلونکی هیوادونو، او د لږ پرمختللی هیوادونه ګټه په پام کی نیول شوی ده.

[20] دا اظهارات په کابل کی د ځینی دولتی وزیرانو او مامورینو سره د لیدنو کتنو پر بنسټ راټول شوی دی، جولای ۲۰۰۶.

[21] د نورو مزیدو معلومات لپاره:

http://ec.europa.eu/trade/issues/global/gsp/eba4_sum.htm

http://www.ustr.gov/Trade_Development/Preference_Programs/GSP/Section_Index.html.

[22] احصایوی ارقام د اروپایی ټولنه له ویب پانی څخه:

*http://ec.europa.eu/trade/issues/bilateral/data.htm; click on 'Afghanistan' to reach: http://trade.ec.europa.eu/doclib/docs/2006/september/tradoc_114134.pdf.*

[23] د افغانستان د هیواد ګزارش، IMF، مارچ ۲۰۰۶، احصایوی ضمیمه

*http://www.imf.org/external/pubs/ft/scr/2006/cr06114.pdf.*

[24] څلور میاشتني اقتصادی او احصایوی رساله، لومړی ټوک، ۲۰۰۶/۰۷، د افغانستان حکومت

*http://www.centralbank.gov.af/pdf/First%20Q.Bulletin%201385,%20%20July%2027,%2006.pdf.*

[25] د افغانستان لپاره تجارتی پروژی ۱۰-۲۰۰۵، نړیوال بانک ۲۰۰۵،

[26] د نړیوال تجارت سازمان د ویب پانی څخه اخیستل شوی ارقام، (www.wto.org)

[27] ارقام د پیسو د نړیوال صندوق او افغانستان د دولت څخه اخیستل شوی

[28] د مخدرو موادو نړیوال راپور ۲۰۰۶، د ملګرو ملتونه دفتر، د مخدره موادو او جرایمو دفتر

[29] Paterson, A. (2006) 'Going to Market:

تجارت او تجاران د افغانستان په شپږو سکتورونو کی، د افغانستان د څیړنی او ارزیابی څانګه، جون ۲۰۰۶، صفحه ۸

[30] لکه څرنګه چی پورته یادونه وشوه

[31] د ملی پرمختګ موقتی پالیسی (I-ANDS)، د افغانستان حکومت، صفحه ۸۱

[32] په افغانستان کی تجارت او جندر: خطرونو او فرصتونه، UNIFEM 2006

[33] دا بیانیه د هغه لیدنو کتنو پر بنسټ بیان شوی چی د افغان او نړیوال پرمختګ د متخصصینو سره په کابل کی ترسره شوه، جولای ۲۰۰۶

[34] د افغانستان لپاره تجارتی پروژی ۱۰-۲۰۰۵، نړیوال بانک ۲۰۰۵،

[35] د بهرنی مستقیمی پانګه اچونی سرویی، د څوارخیزه پانګه اچونی د ضمانت ایجنسی (MIGA)،

د (Deloitte & Touche LLP) په مرسته، نړیوال بانک ۲۰۰۲ کال

[36] د پرمختګ نړیوال راپور ۲۰۰۵، د هرچا لپاره د پانګه اچونی یو بهتر چاپیریال، نړیوال بانک، ۲۰۰۵

[37] په افغانستان کی د پانګه اچونی فضا: په بی ثباته چاپیریال کی د فرصتونو څخه ګټه اخیستل، نړیوال بانک ۲۰۰۵.

[38] لکه څرنګه چی پورته یادونه وشوه

[39] دا برخه د اکسفام د مجلس د اسنادو څخه اخیستل شوی ده،

[40] د نړيوال تجارت سازمان ويب پاڼه:

*www.wto.org/english/tratop_e/dispu_e/dispu_status_e.htm.*

[41] مراجعه وکړی:

See 'GCAP Afghanistan Trade Fair: Case Study of Gada Mohamad Ameri', ActionAid, December 2005; and The GCAP Afghanistan Trade and Advocacy Group: 'Briefing Sheet', 2005.

[42] دا د اجناسیو هغه ډول معامله ده چې يو شی د هغه د توليد د اصل قيمت نه هم ارزان خرڅول کيږی. دا د اجناسیو هغه ډول معامله ده چې يو شی د هغه د توليد د اصل قيمت نه هم ارزان خرڅول کيږی.

[43] رينتيا يا نتايج: ولی اروپايي ټولنه او د امريکا متحده ايالات بايد خپل سب سايډی اصلاح کړی، يا قيمت تأديه کړئ، اکسفام نړيوال ۲۰۰۵

[44] څلور مياشتني اقتصادی او احصايوی رساله، لومړی ټوک، ۲۰۰۶/۰۷، د افغانستان حکومت

*http://www.centralbank.gov.af/pdf/First%20Q.Bulletin%201385,%20%20July%2027,%2006.pdf.*

[45] د مارکيټ په لوری تلل، پيترسن، A

[46] په ميمنه که د قالينو اوبدل او تجارت، د فارياب ولايت، د قضيه څيړنه، کريسشن ايډ، ديسامبر ۲۰۰۵

[47] دا برخه د آکسفام د مجلس د اسنادو څخه اخيستل شوی، د ناورين لپاره لاربښوونی: آيا د دوها دور د پرمختګ په برخه کی ناکام شی؟ اکسفام نړيوال، اپريل ۲۰۰۶

[48] د ايشيا پاسفيک د بشری پرمختګ راپور، UNDP 2006

[49] مجهز قوانين او دوه ګونی معيارات، آکسفام نړيوال، ۲۰۰۲

[50] په افغانستان کی تجارت او جندر: خطرونو او فرصتونه، UNIFEM 2006

[51] د ايشيا پاسفيک د بشری پرمختګ راپور، UNDP 2006

[52] د افغانستان دولت د ګمرکاتو څخه اخيستل شوی ارقام، (www.customs.gov.af)

[53] د نړيوال تجارت سازمان د ويب پاڼی څخه اخيستل شوی ارقام، (www.wto.org)

[54] مراجعه وکړئ:

GCAP Afghanistan Trade Fair', ActionAid and the GCAP Afghanistan Trade and Advocacy Group

[55] په پرمختلونکی هيوادونو کی د ټکس لګولو سياسی اقتصاد او د ټکس اصلاحات، Di John, J. ، جولای، ۲۰۰۶

[56] د عوامو په خوښه، اکسفام نړيوال، ۲۰۰۶، صفحه ۶۱-۶۰

[57] دا برخه د اکسفام د مجلس د اسنادو څخه اخيستل شوی، 'Extortion at the Gate'

[58] د پانګه اچونی د فضا په اړه اعلاميه، پاکستان ۲۰۰۵، د متحده ايالاتو د دولت ديپارتمنت

www.state.gov/e/eb/ifd/2005/42099.htm.

[59] په هانګ کانګ کی د نړيوال تجارت سازمان د وزيرانو اعلاميه، د ايف ضميمه، ديسمبر، ۲۰۰۵

*www.wto.org/english/thewto_e/minist_e/min05_e/final_annex_e.htm.*

[60] د يوراګوای د دور د تعهداتو عملی کول: د پرمختګ ننګوونه، Finger, J. M. and P. Schuler، نړيوال بانک، ۱۹۹۹

[61] د لږ پرمختللی هیوادونو لپاره ځانګړی او توپیری معاملی، د تجارت او پرمختګ په اړه د نړیوال تجارت سازمان کمیټه، WT/COMTD/W/1355, October 2004.

[62] د کمبودیا د لاس رسی د شرایطو د لا ډیرو معلوماتو لپاره، د د نړیوال تجارت سازمان ته کمبودیا لاس رسی وګورئ: څرنګه د ځنګل قانون د نړی ترټولو غریب هیواد باندی تطبیق کیږی. اکسفام نړیوال ۲۰۰۳،

[63] سره له دی چی د لږ پرمختللی هیوادونه آسانتیاوی اصولاً منل شوی، ولی دا قانونی حقوق نه بلل کیږی، او لاتروسه عملی شوی ندی. دا به ترهغه وخته د قانونی حقوقو بڼه ځانته ونه نیسی ترڅو د مذاکراتو دور نه وی ختم شوی.

[64] دا برخه د آکسفام د مجلس د اسنادو څخه اخیستل شوی، د ناورین لپاره لاربښوونی

[65] د نړیوال تجارت سازمان ته لاس رسیدنه: د هیواد تجارب او فنی مرستی، نړیوال بانګ

[66]خلا ته پاملرنه وکړه: نړیوال تجارت سازمان ته د ویتنام د لاس رسیدنی آخری شیبی، اکسفام نړیوال، ۲۰۰۵

[67] مراجعه دی وشی:.'Extortion at the Gate', op. cit

[68] د لږ پرمختللی هیوادونو د لاس رسی پروسه؛ WTO، دیسامبر ۲۰۰۲. لاربښوونی د مارکیټ لاس رسي، WTO قوانینو، فنی مرستو، او د ظرفیتونو لوړوالی پوری اړه لری.

[69] دا بیانیه د هغه لیدنو کتنو پر بنسټ بیان شوی چی د افغان او نړیوال پرمختګ د متخصصینو سره په کابل کی ترسره شوه، جولای ۲۰۰۶

[70] د تجارت او پرمختګ په اړوند د ملګرو ملتونو کنفرانس : www.unctad.org

[71] د آکسفام د مجلس د اسنادو څخه اخیستل شوی، 'Extortion at the Gate'

[72] د نړیوال تجارت سازمان د لاس رسی په هکله د اکسفام د اسنادور څخه اخیستل شوی سپاربښتلیکونه،

'Extortion at the Gate', op. cit. and 'Make Extortion History

د نړی د ترټولو غریبو هیوادونو لپاره د نړیوال تجارت سازمان د لاس رسی د دوستانه پرمختګ د قضیه څیړنه، اکسفام نړیوال، ۲۰۰۵.

نړیوال آکسفام – د ۲۰۰۷ کال د جون میاشت

دا سند د "ماری کیرک براید" په وسیله د لاندی کسانو په مرسته او همکاری لیکل شوی دی:

جونیفر برانټ، باری کوتیس، کریستیان ډینیز، مټ والډمن، ماریتا هوجیس او لیز ستوارت

دا سند د هغو خپاره شویو اسناد د لړی یوه برخه ده چی د پرمختګ او بشر دوستی د پالیسی د موضوعاتو په هکله عامه پوهاوی لوړوی.

ددی رسالی محتویات په آزادانه ډول کیدای شی د وکالت، کمپاین، روزنی او څیړنی مقاصدو لپاره وکارول شی، په دی شرط چی د معلوماتو بشپړی سرچینی ته پکښی اشارت وشی.

د کاپی د حق ساتونکی هیله کوی چی ددی رسالی د متن څخه استفاده کول باید له دوی سره راجستر شی، ترڅو ددی رسالی کارنده توب څرګند شی.

که ددی رسالی متن د نورو مقاصدو لپاره کارول کیږی، او یا په نورو خپرونو کی بیاځلی خپریږی، او یا د ژباړی یا کوم توافق لپاره کارول کیږی؛ نو اړینه ده چی رسمی اجازه وغوښتل شی چی ممکن ددی کار لپاره کوم لګښت هم په پام کی ونیول شی. بریښنالیک: publish@oxfam.org.uk

ددی سند د مسایلو په اړوند د نورو مزیدو معلوماتو لپاره مونږ سره په لاندی ډول اړیکی ټینګی کړئ:

بریښنا لیک: advocacy@oxfaminternational.org

ویب پانه: www.maketradefair.com

دی رسالی کی نغښتی معلومات مطبعی ته چاپ ورلو تر مهاله سم او کره وه.

**نړيوال آکسفام** د ديارلس ټولنو يو ائتلاف دی چی د نړی تر ۱۰۰ زيات شمير هيوادونو کی سره ګډ کار کوی ترڅو د فقر او بی عدالتی لپاره دايمی د حل لاری پيدا کړی. دا آکسفام ديارلس ټولنی په لاندی ډول څرګنديږی : اکسفام امريکا، اکسفام آستراليا، اکسفام په بلژيم کی، آکسفام کاناډا، آکسفام فرانسه، آکسفام جرمنی، آکسفام بريتانيای، آکسفام هانګ کانګ، آکسفام انټرمون (هسپانيه)، آکسفام ايرلند، آکسفام نيوزلند، آکسفام نوويب (نيترلند)، او اکسفام کيوبا

تاسی کولای شی ددی ټولنو هری نماينده ګی سره اړيکی ټينګی کړی، د مزيدو معلوماتو لپاره د آکسفام ويب پاڼی ته مراجعه وکړی www.oxfam.org

| | |
|---|---|
| **اکسفام امريکا**<br>226 Causeway Street, 5th Floor<br>Boston, MA 02114-2206, USA<br>+1 617 482 1211 (Toll-free 1 800 77 OXFAM)<br>E-mail: info@oxfamamerica.org<br>www.oxfamamerica.org | **آکسفام هانګ کانګ**<br>17/F., China United Centre, 28 Marble Road, North Point, Hong Kong<br>Tel: +852 2520 2525<br>E-mail: info@oxfam.org.hk<br>www.oxfam.org.hk |
| **اکسفام آستراليا**<br>132 Leicester Street, Carlton, Victoria 3053, Australia<br>Tel: +61 3 9289 9444<br>E-mail: enquire@oxfam.org.au<br>www.oxfam.org.au | **آکسفام انټرمون (هسپانيه)**<br>Roger de Llúria 15, 08010, Barcelona, Spain<br>Tel: +34 902 330 331<br>E-mail: info@intermonoxfam.org<br>www.intermonoxfam.org |
| **اکسفام په بلژيم کی**<br>Rue des Quatre Vents 60, 1080 Brussels, Belgium<br>Tel: +32 2 501 6700<br>E-mail: oxfamsol@oxfamsol.be<br>www.oxfamsol.be | **آکسفام ايرلند**<br>Dublin Office, 9 Burgh Quay, Dublin 2, Ireland<br>Tel: +353 1 672 7662<br>Belfast Office, 115 North St, Belfast BT1 1ND, UK<br>Tel: +44 28 9023 0220<br>E-mail: communications@oxfamireland.org<br>www.oxfamireland.org |
| **آکسفام کاناډا**<br>250 City Centre Ave, Suite 400, Ottawa, Ontario, K1R 6K7, Canada<br>Tel: +1 613 237 5236<br>E-mail: info@oxfam.ca<br>www.oxfam.ca | **آکسفام نيوزلند**<br>PO Box 68357, Auckland 1145, New Zealand<br>Tel: +64 9 355 6500 (Toll-free 0800 400 666)<br>E-mail: oxfam@oxfam.org.nz<br>www.oxfam.org.nz |
| **آکسفام فرانسه**<br>104 rue Oberkampf, 75011 Paris, France<br>Tel: + 33 1 56 98 24 40.<br>E-mail: info@oxfamfrance.org<br>www.oxfamfrance.org | **آکسفام نوويب (نيترلند)**<br>Mauritskade 9, Postbus 30919, 2500 GX, The Hague, The Netherlands<br>Tel: +31 70 342 1621<br>E-mail: info@oxfamnovib.nl<br>www.oxfamnovib.nl |
| **آکسفام جرمنی**<br>Greifswalder Str. 33a, 10405 Berlin, Germany<br>Tel: +49 30 428 50621<br>E-mail: info@oxfam.de<br>www.oxfam.de | **اکسفام کيوبک**<br>2330 rue Notre Dame Ouest, bureau 200, Montreal, Quebec, H3J 2Y2, Canada<br>Tel: +1 514 937 1614<br>E-mail: info@oxfam.qc.ca<br>www.oxfam.qc.ca |
| **آکسفام بريتانيای**<br>Oxfam House, John Smith Drive, Cowley, Oxford, OX4 2JY, UK<br>Tel: +44 1865 473727<br>E-mail: enquiries@oxfam.org.uk<br>www.oxfam.org.uk | |

**د آکسفام نړيوال سکرتريت دفتر**

Suite 20, 266 Banbury Road, Oxford, OX2 7DL, UK
Tel: +44 1865 339100 Email: information@oxfaminternational.org. Web site: www.oxfam.org

### د آکسفام نړیوال د ملاتړ دفترونه

E-mail: advocacy@oxfaminternational.org
**Washington**: 1100 15th St., NW, Ste. 600, Washington, DC 20005-1759, USA
Tel: +1 202 496 1170.
**Brussels**: Rue Philippe le Bon 15, 1000 Brussels, Belgium, Tel: +322 502 0391.
**Geneva**: 15 rue des Savoises, 1205 Geneva, Switzerland, Tel: +41 22 321 2371.
**New York**: 355 Lexington Avenue, 3rd Floor, New York, NY 10017, USA
Tel: +1 212 687 2091.
**Linked Oxfam organizations.** The following organizations are linked to Oxfam International:

**د آکسفام سره تړلی ټولنی: لاندی ټولنی د نړیوال آکسفام سره تړلی دی:**

**Oxfam Japan** Maruko bldg. 2F, 1-20-6, Higashi-Ueno, Taito-ku, Tokyo 110-0015, Japan
Tel: + 81 3 3834 1556. E-mail: info@oxfam.jp Web site: www.oxfam.jp
**Oxfam Trust in India** B - 121, Second Floor, Malviya Nagar, New Delhi, 1100-17, India
Tel: + 91 11 2667 3 763. E-mail: info@oxfamint.org.in Web site: www.oxfamint.org.in

**Oxfam observer member.** The following organization is currently an observer member of Oxfam International, working towards possible full affiliation:
**د آکسفام ناظر غړی: لاندی ټولنی اوس مهال د نړیوال آکسفام د ناظرو غړو په څیر کار کوی ترڅو بشپړ غړیتوب ځآنته حاصل کړی:**

**Fundación Rostros y Voces (México)** Alabama No. 105 (esquina con Missouri), Col. Napoles, C.P. 03810 Mexico, D.F.
Tel/Fax: + 52 55 5687 3002. E-mail: communicacion@rostrosyvoces.org Web site: www.rostrosyvoces.org

Published by Oxfam International June 2007
Published by Oxfam GB for Oxfam International under ISBN 978-1-84814-414-9